# مسنون

# مترجم مونځ

(بیلمازه به دوزخ ته ځی)

چه هغوی به په جنتونو کی(ناست وی)، د گناهگارانو به تپوس کوی. د مجرمانو نه، تاسو دوزخ ته کوم څیز راوستلی ئی؟ هغوی به جواب ورکړی چه مونږ مونځ نه کولو. نه به مو مسکینانو ته خوراک ورکولو. (المدثر : ۴۰ تا ۴۴)

په دروغوژنو دي دالله لعنت وي. الانعام:۶۱



دین د خپل پلار ابراهیم (علیه السلام) لره قائم اوساتیٖ، هم هغی (الله) ستاسو نوم مسلم ایخودی دی، ددی (قرآن ) نه مخکی او په دی کی هم، دی دپاره چه پیغمبر په تاسو باندی گواه شی او تاسو په ټولو خلقو باندی گواه جوړ شیٖ. (الحج : ۷۸)

ناشر: محمد اقبال خلیفه

دروغ مه وايه.رشوت مه اخله. په ناپ تول کښې کمې مه کوه خپل قسمونه پوره کړه

بسم الله الرحمن الرحيم

اے زما زويه! تۀ مونځ قائم ساته او د ښۀ کارونو نصيحت کوه او د بدو کارونو نه منع کول کوه او کوم مصيبت چې په تا راشي په هغې صبرکوه بېشکه دا د لوئې همت کار دے. (لقمان:۱۷)

او کوم سړے چې دالله تعالیٰ د نازل کړي حکم مطابق فېصله (وحکومت) ونۀ کړي پس هم دغه خلق کافران دي. (المائده: ۴۴)

# مسنون مونځ مترجم

مترجم

ابو حسان منصف ګل کتوزی

ناشر

وحيدي کتب خانه محله جنګي قصه خواني پېښور ښار

په تاسوکښې يو جماعت داسې کېدل پکار دي چې خلقو ته د نېکۍ حکم کوي او د بدۍ نه ئې منع کوي ( ال عمران: ۱۰٤ )

تاسو غوره امت يئ چې د خلقو دپاره پېدا کړې شوي يئ چې تاسو به د نېکۍ حکم کوئ او د بدو نه به منع کول کوئ (ال عمران: ۱۱۰ )

د هغهٔ څوک شريک نشته دے ماته هم دا حکم شوے دے او زهٔ د ټولو نه اولنے مسلمان يم. (الانعام:۱۶۳)

## د کتاب پېژنده:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | **مسنون مونځ مترجم** |
| ناشر: | خليفه محمداقبال (يو-کے) |
| مترجم : | ابو حسّان منصف گل کتوزی |
| مصحح : | مولانا عبدالوافي فاضل جامعه امادا علوم پېښور |
| د چاپ کال : | ۲۰۲۲ء |
| طباعت : | وحيدي کتب خانه پېښور |
| هديه : | تقسيم في سبيل الله |

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# مقدمه

د الله په نوم سره شروع کوم چې رحمٰن (او) رحيم دے

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَاشْهَدُ أَنْ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ خَيرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللّٰهِ وَخَيرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ ﷺ وَشَرَّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَالضَّلَالَةُ فِي النَّارِ.

وَ اِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اِنِّىۡ جَاعِلٌ فِى الۡاَرۡضِ خَلِيۡفَةً ؕ قَالُوۡۤا اَتَجۡعَلُ فِيۡهَا مَنۡ يُّفۡسِدُ فِيۡهَا وَ يَسۡفِكُ الدِّمَآءَ ۚ وَ نَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَ نُقَدِّسُ لَكَ ؕ قَالَ اِنِّىۡۤ اَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ (البقرة : ۳۰)

او کله چې ستا رب فرښتو ته اووئيل، زهٔ په زمکه باندې خليفه جوړوونکے يم. فرښتو اووئيل: داسې څوك ولې پيدا کوئ چې په زمکه کښې فساد وکړي او وينه توې کړي او مونږ ستا تسبيح، حمد او پاکي بيانوونکي يو. الله تعالىٰ وفرمايل په کوم څۀ چې زۀ پوهېږم تاسو نۀ پوهېږئ.

وَ هُوَ الَّذِىۡ جَعَلَكُمۡ خَلٰٓئِفَ الۡاَرۡضِ وَ رَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِىۡ مَاۤ اٰتٰٮكُمۡ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيۡعُ الۡعِقَابِ ۖ وَ اِنَّهٗ لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۶۵﴾ (الانعام: ۱۶۵)

او الله تعالىٰ هم هغه دے چا چې تاسو په زمکه د اختيار خاوندان جوړ کړئ او چا له ئې په تاسو کښې د نورو په مقابله کښې اوچتې درجې درکړې، دې دپاره چې هغه په دې څيزونو کښې ستاسو ازمېښت وکړي کوم چې هغه تاسو لره درکړي دي. بېشکه ستا رب ډېر زر سزا ورکونکے دے او بېشکه هغه يقينًا ډېر بخښونکے ډېر مهربان دے.

## خلیفه

د خليفه معنٰي د نائب ده. په دنياوي اعتبار سره خليفه او نائب هغه سړي ته وئيلې شي چاته چې د خپل ځان نه د اوچت مشر يا افسر د طرف نه څۀ اختيارات ورکړې شوي وي. هغه په خپله مشرۍ يا په علاقه په هغه اختياراتو استعمالولو کښې څۀ حده پورې بااختياره وي. بيا به هم دے دا اختيارات د خپل اوچت مشر يا افسر د مرضۍ او خوښۍ مطابق استعمالوي. هغه د خپل طرف نه په دې علاقه کښې يا مشرۍ کښې څۀ نوے نظام نۀ شي متعارف کولے بلکې د مشرانو د طرف نه د ملاوېدونکي هداياتو په رڼا کښې د حکومت نظام چلول په دۀ باندې واجب دي کچرې دے د هغه مقرر شوې فريضې په ادا کولو کښې د غفلت او سستۍ نه کار واخلي يا د پاس نه د مېلاؤ شوي هداياتو نه مخ واړوي نو د دۀ نه به تپوس کېږي او په هغې باندې به نيولے کېږي هم.

بالکل هم داسې الله تعالىٰ انسان لره په دنيا کښې خپل خليفه او نائب جوړ کړے رالېږلے دے په قرآنِ پاک کښې ئې انسان لره خليفه ګرځولے دے.

د الله تعالىٰ ارشاد دے:

اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ (البقره : ۳۰)

"زۀ په زمکه کښې خليفه جوړونکے يم"

انسان ته په حېثيت د نائب د الله تعالىٰ د طرف نه اختيارات ورکړې شوي دي چې هغې لره به د الله تعالىٰ د هداياتو په رڼا کښې استعمالوي. دغه شان هر سړے په خپله دائره کښې اوسېدو سره په څۀ نه څۀ طريقې سره د حکمرانۍ فريضه ادا کوي.

کچرې دے پلار دے يا مور ده نو د دۀ اولاد د دۀ رعايا دي کچرې دے خاوند دے نو ښځه او نور ټبر د دۀ رعايا دي کچرې مشر ورور يا خور ده نو د دۀ کشران وروڼه او خوېندې د دۀ ماتحته خلقو کښې شامل دي او په حېث د خليفه د هغوي د اعمالو د صحيح کولو کوشش (سترې) کول او هغوي ته د نېک کارونو حکم کول او د بدو کارونو نه منع کول د هغۀ ذمه واريانو کښې شامل دي. کچرې هر

سړے خپلې ذمه واريانې په ښه طريقه سره سر ته ورسوي او خپل ماتحته خلقو ته هم د نېک کارونو تلقين کوي نو يقينًا هر سړے به د معاشرې ښهٔ سړے جوړ شي او دا دنيا به د امن ځائې جوړ شي اوکهٔ هغه د ذمه وارو په ادا کولو کښې ناکامه شهٔ نو هغه ګنهګار بړي او په نقصان او تاوان کښې به وي او هم د داسې خلقو دپاره په قرآن کريم کښې ارشاد دے:

وَ الْعَصْرِ ① اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ ② اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ تَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَ تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ③ (العصر)

" قسم دے په زمانې چې انسان ډېر په تاوان کښې پروت دے سېوا د هغه خلقو نه چې ايمان يې راوړے دے او نېک کارونه ئې کړي دي او يو بل ته د حق تلقين کوي او د صبر نه د کار اخستو تاکيد کوي"

دغه شان د خليفه کېدو په وجه د کاميابېدو دپاره دا زمونږ د ټولو فرض دي چې مونږ د الله تعالى دَ احکاماتو په رڼا کښې نهٔ صرف پخپله د روزمره معاملاتو ژوند تېروؤ بلکې نورو ته هم د نېکۍ حکم ورکړو او د بدۍ نه ئې منع کړو. د الله تعالىٰ ارشاد دے:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

(ال عمران : ۱۱۰)

"تاسو بهترين امت يئ چې د خلقو دپاره پېدا کړې شوي يئ تاسو د نېکو حکم کوئ او د بدو نه منع کول کوئ"

وَ لْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ (آل عمران : ۱۰۴)

"په تاسو کښې يوه ډله داسې کېدل پکار دي چې خلقو ته د نېکو حکم کوي او د بدو نه منع کول کوي"

بدي کهٔ لويه وي اوکهٔ وړه الله تعالى او د هغه رسول ﷺ ته سخته ناخوښه ده. پاسني قرآني آياتونه مونږ په سوچ کولو باندې مجبوروي چې نن مونږ د

خپلې ناپوهئ په وجه سره د قرآني تعلیماتو نه څومره لرې تلي یو. قرآني آیاتو نه مونږ ته زورنه راکوي چې اوس هم مونږ لره محاسبه کول پکار دي. زمونږ په مخکښې په زرګونو بدئ ښکاره په ښکاره کېږي خو مونږ اکثر په دې باندې سترګې پټوؤ چا هم دې لره د دې آیتونو په رڼا کښې د منع کولو دپاره کوشش نهٔ دے کړے. په مونږ کښې اخلاقي جرأت ختم شوے دے خو مونږ دومره خو کولې شو چې کم نه کم خپل ځان لره د دې بدو نه لرې وساتو کهٔ په خپلو ملګرو، عزیزانو، رشته دارانو کښې څهٔ خبره د قرآن خلاف اووینو نو هغې لره منع کړو او پخپل خاندان کښې په حېثیت د یو پلار، ورور، زوي او د یو خاوند د خپل ذمه واریانو احساس وکړو، پخپله یو کار کول او نورو ته د هغې ترغیب ورکول. دې دپاره چې مونږ د غوره امت وئیلو اهل وګرځو. د بدو نه منع کېدل او نور د هغې نه منع کول هم سنت نبوي ﷺ دي او قرآن مونږ ته بیا بیا همدا درس راکوي.

په پاسني آیتونو کښې د موجوده حکم په رڼا کښې مونږ د دې کار شروع وکړه. زمونږ مراد خلقو ته د قرآني تعلیماتو لره هغوي ته د هغوي په خپله ژبه کښې رَسَول، او په هغې باندې د عمل کولو اهمیت لره راژوندي کول دي. وړومبے دا چې خلقو لره مونځ طرف ته راغب کول، او مونځ ګزارو ته د مونځ معنٰي او مطلب ښودل او په دې باندې عمل کولو دپاره په مختلف مدرسو، حکومتي او عوامي سکولونو کښں د مونځ ترجمې سره بغېر د قیمت نه ورکول دي. په ماشومانو کښې د مونځ د ادا کولو او د هغې په ترجمې سره د خبرداري شوق پېدا کولو دپاره به وخت په وخت مونځ کتلې شي او د کامیابي موندونکي ماشومانو د همت اوچتولو او نورو ماشومانو ته د رغبت ورکولو دپاره به طلباء وطالباتو کښې نغد انعامات تقسیم کولې شي. دې دپاره چې په ماشومانو کښې په ترجمې باندې د پوهېدلو شوق پېدا شي.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله تعالیٰ په نوم سره شروع کوم چې رحمن او (رحیم) دے

**د بسم الله نه د شروع کولو دلیل:** په قرآن مجید کښې په سورة نمل کښې د حضرت سلیمان علیه السلام د طرف نه د سباء ملکې "بلیقس" ته د خط لیکلو ذکر موجود دے. حضرت سلیمان علیه السلام د خپل خط شروع د بسم الله الرحمن الرحیم نه کړې ده. د هغې آیت ترجمه داده:

ترجمه: (خط ولوستلو) ملکه اووئیل اے د قوم مشرانو رارسېدلے دے ماته د یو عزت مند خط دا د سیلمان د طرف نه دے او هغه دا دے چې د الله تعالیٰ د نوم نه شروع کوم چې رحمٰن او (رحیم) دے. (نمل: ۲۹، ۳۰)

پاسنے آیت په دې خبره باندې دلیل دے چې کله هم د یو نېک کار خصوصًا خط یا د لیکلو شروع کېږي نو همېشه دې د الله تعالیٰ د برکتي نوم نه کېږي. د الله پاک په نوم سره د یو کار شروع کولو سره د الله تعالیٰ غیبي مدد هم ملګرے کېږي او کار آسان شي خو د افسوس خبره دا ده چې مونږ د خط په شروع کښې د بسم الله الرحمٰن الرحیم د لیکلو رواج د سر نه پرېښودلے دے یا ځو ترقي کونکي خلق عوام الناس لره د بسم الله الرحمٰن الرحیم په ځائې د ۷۸۶ په لیکلو باندې راغب کوي. د هغوي په قول د علم الاعداد مطابق بسم الله الرحمٰن الرحیم عدد ۷۸۶ جوړېږي. حالانکې د دې اعدادو نه کله هم د څهٔ کار شروع کول د الله تعالیٰ په نوم سره دا معنٰي و مطلب نهٔ جوړېږي. تردې پورې چې د ۷۸۶ لیکلو والا خلق هم د دې نه قطعي ناواقفه او لاعلمه دي چې ۷۸۶ معنٰي څنګه د بسم الله معنٰي جوړېږي. حق خبره خو داده چې ۷۸۶ یا حروف یا اعداد د بسم الله الرحمن الرحیم نه خو مماثل دي او نه متبادل. لهٰذا مونږ لره د خپل اولاد تربیت کول پکار دي او هغوي لره د څهٔ کار په شروع کښې د بسم الله وئیلو او د څهٔ لیکلو په شروع کښې د بسم الله الرحمن الرحیم عادت جوړول پکار دي.

**السلام علیکم (په تاسو دې سلامتیا وي):** کور ته د ننوتلو په وخت د کور په خلقو باندې سلامتي لېږل (یعنې السلام علیکم وئیل) نهٔ صرف اخلاقي تقاضه ده بلکې سنت هم دي. په سورة النور کښې د الله تعالیٰ ارشاد دے:

ترجمه : بس کله چې تاسو کورونو ته داخلېږئ نو د خپل کور خلقو ته سلام کوئ دا د خېر دعا ده چې بابرکته او پاکيزه ده د الله تعالیٰ د طرف نه نازل شوې ده، هم داسې الله تعالیٰ ښکاره ښکاره تاسو ته خپل حکمونه بيانوي دې دپاره چې تاسو پوهه شئ. (النور: ۶۱)

د السلام عليکم په شان مختصر الفاظو کښې د ډېر جامع الفاظو معنٰي پټه پرته ده. يعنې السلام عليکم والا کس د الله تعالیٰ نه دا دعا کوي چې په دې سړي دې سلامتي وي دا سړے دې د هر قسمه آفاتو او مصيبتونو نه په امن کښې وي او د دهٔ ځان اومال ټول دې په حفظ وامان او سلامتيا کښې وي. قرآن مجيد هم مونږ له د نورو دپاره د دعا کولو تعليم او ترغيب راکوي. د الله تعالیٰ ارشاد دے :

ترجمه : اوکله چې سلام وکړے شي تاسو ته په څهٔ لفظ سره نو تاسو سلام وکړئ په داسې لفظ سره چې غوره وي د دې نه يا (کم نه کم) واپس ورته اووايه هم هغه لفظ بېشکه الله تعالیٰ د هر څيز حساب اخستونکے دې. (النساء:۸۶)

نن زمونږ دوستان ملګري په دې يقين ساتي چې کومه دعا د چا دپاره وکړئ هغه قبوليت ته زياته نزدې وي. په دې وجه هر دوېم کس به تاته داسې وئيلو والا مېلاؤ شي. چې "دعا راته وکړه" "په خپلو دعاګانو کښې مې ياد ساته" وغېره. خو په خپل حق کښې د چا د خُلې نه د دعا کولو بالکل ساده او آسانه طريقه دا ده چې په خپله د نورو دپاره دعا وغواړي چې هر واقف ناواقفه وړوکے او لوې ته السلام عليکم اووائي. داسې هر يوکس به د بل دپاره دعا کوي لوکوم کس ته چې سلام وکړے شي هغه به هم په جواب کښې د وعليکم السلام په صورت کښې ستا دپاره دعا کوي.

قرآن مجيد نهٔ صرف ديني معاملاتو کښې زمونږ رهنمائي کوي بلکې الله پاک د شفقت او مهربانۍ کولو سره په دې کښې ځائې په ځائې د انسان د اخلاقو د تربيت هم انتظام کړے دے. کورونو ته د ننوتلو په وخت السلام عليکم وئيل او د چا کور ته د ننوتلو نه مخکښې د اجازت اخستلو تعليم ورکړے شوے دے. او وئيلې شوي دي چې د چا کور ته د ننوتلو نه مخکښې درې ځله اجازت واخستلې شي اوکچرې اجازت مېلاؤ نهٔ شي يا څهٔ جواب مېلاؤ نهٔ شي نو د

واپس کېدلو حکم ورکړے شوے دے. په قرآن مجيد کښې الله تعالیٰ فرمائي :

ترجمه: اې ايمان والو! مۀ ننوځئ (د نورو خلقو) کورونو ته د خپل کورونو نه بغېر، کله پورې چې تاسو اجازت وانخلئ او سلام ونۀ کړئ د هغوي په کورونو کښې اوسېدونکو ته. هم دا غوره دي ستاسو دپاره، دې دپاره چې تاسو (د هغۀ په حکمتونو کښې) غور و فکر وکړئ. بيا کچرې ونۀ مومې د هغوي په کورونو کښې (چې تاسو ته اجازت درکړي) نو مۀ ننوځئ په هغې کښې تردې پورې چې اجازت درکړے شي تاسوته، اوکۀ اووئيلې شي چې واپس شئ نو واپس لاړ شئ دا (طريقه د معاشرت) ډېره پاکيزه ده ستاسو دپاره او تاسو چې څۀ کوئ الله تعالیٰ په هغې باندې ښۀ خبردار دے. (النور: ۲۷،۲۸)

د چا کور ته د ننوتلو نه مخکښې چې د اجازت کوم شرط اېښودلے شوے دے په هغې کښې بې شماره حکمتونه دي. کچرې په دې باندې عمل ونکړې شي او بغېر د اجازت او دروازه وهلو نه د چا کور ته او يا خپل کور کښې د نورو خلقو کمرې ته ننوتلو سره بې شماره مسائل پيدا کېدې شي او د بې پردګۍ وېره کېدې شي. لهٰذا مونږ له پکار دي چې قرآني تعليماتو له خپل کړو او د چا کور ته يا کمرې ته د ننوتلو نه مخکښې اجازت اخستل خپل عادت جوړ کړو او دَ خپل اولاد لوکور والوهم تربيت وکړو.

دغه شان کۀ څوک سړے تاسره نېکي يا مدد وکړي د هغې د شکريه ادا کولو تعليم ورکړے شوے دے او دا زمونږ په اخلاقي ذمه واريانو کښې شامل کړې شوي دي، دې دپاره چې د نېکۍ کونکي کس هم حوصله افزائي وشي او هغه د نورو خلقو سره هم مدد وکړي په حديث شريف کښې راځي :

(څوک چې ديو انسان شکريه نۀ ادا کوي هغه د خپل رب هم شکريه نۀ ادا کوي)

اسلام د استاذانو د عزت او قدر کولو هدايت هم فرمائيلے دے او هغۀ له ئې د روحاني پلار درجه ورکړې ده. په طالبانو باندې لازم دي چې هغوي د خپلو استاذانو احترام کوي، او د هغوي وېنا مني او د هغوي ښودلې شوې خبرو باندې عمل وکړي. دغه شان استاذانو له هم پکار دي چې هغوي طالبانو ته د خپل اولاد په شان ګوري. څنګه چې يو پلار دا غواړي چې د هغۀ اولاد دې د هر قسمه

بدو نه لرې وي دغه شان استاذانو لره هم پکار دي چې د خپلو طالبانو اخلاقي تربیت کښې څهٔ قسمه کمے ونهٔ کړي. هغوي له پکار دي چې د طالبانو سره د نرمۍ معامله وکړي د هغوي په هر لحاظ سره اخلاقي تربیت کول پکار دي. صرف په دې صورت کښې زمونږ په معاشره کښې امن قائمېدې شي او طلباء وطالبات د ملک وقوم په تعمیر او ترقۍ کښې خپل مثبت کردار ادا کولې شي.

## اذان

د پينځهٔ وخته مونځ دپاره بلنه او د الله تعالیٰ د دعوت نوم اذان دے.

اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ

د اَللّٰهُ اَكْبَرُ تقاضه داده چې مونږ الله لره لوئي اومنو او ټول دنياوي كارونو لره پرېږدو او د مونځ ادا كولو دپاره د مسجد (جمات) طرف ته روان شو. مؤذن د الله تعالیٰ لوئي بيانوي چې الله تعالیٰ ډېر لوئې دے، الله تعالیٰ ډېر لوئې دے خو مونږ وايو چې زمونږ كوم كاروباري معامله كېږي هغه ډېره لويه ده، په دې كښې ملاوېدونكي ګټه ډېره لويه ده، يا زمونږ چې كوم افسر په دفتر كښې موجود وي هغه ډېر لوئې دے مونږ د هغه اَفسر او حكمران په چاپلوسۍ او خوشامد كښې لګيا يو او د الله تعالیٰ دې دعوت ته څهٔ اهميت نهٔ وركوؤ. دغه شان مونږ پخپل عمل سره د الله تعالیٰ د لوئۍ نه انكار كوؤ.

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

د اذان جواب (كوم چې په مونږ باندې لازم دے) وركولو سره مونږ د دې خبرې ګواهي وركوؤ چې د الله تعالیٰ نه بغېر څوک د بندګۍ او عبادت لائق نشته. مونږ د الله تعالیٰ د بندګۍ دَ لائق كېدو ګواهي وركوؤ خو د هغهٔ بندګي زمونږ خوښه نهٔ ده مونږ د مونځ دَ ادا كولو دپاره نهٔ ځو.

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ

مونږ د محمد ﷺ د الله تعالیٰ د پېغمبر كېدو اعتراف كوؤ او ګواهي وركوؤ. د دې تقاضه ده چې د الله تعالیٰ د پېغمبر په لاره باندې لاړ شو چې هغه كله او په هېڅ صورت هم مونځ نهٔ دے پرېښودلے خو مونږ مونځ نهٔ كوؤ او خپله ګواهي باطلوؤ.

حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ

الله تعالىٰ څومره كريم دے چې هغهٔ مونږ ته صرف د مونځ د قائمولو او ادا كولو حكم نهٔ دے راكړے بلكې د هر مونځ د ادا كولو په وخت د هغې د يادولو اهتمام ئې هم كړے دے چرته څوك ونهٔ وائي چې زهٔ خو مصروف ووم او ماته د مونځ د ادا كولو او د وخت پته ونهٔ لګېده. الله تعالىٰ د اتمامِ حجت اهتمام وكړو خو مونږ بيا هم مونځ نهٔ كوؤ.

حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ

نن هر سړے په دنياوي پرېشانوكښې اختـه دے او په يو څهٔ طريقه د دې نه خلاصے او كاميابي غواړي. الله تعالىٰ كاميابئ طرف ته بلنه كوي خو مونږ كاميابي ترلاسه كول نهٔ غواړو او د مونځ د ادا كولو دپاره جمات ته تلل نهٔ غواړو.

اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ

په آخره كښې د مؤذن د طرف نه د الله تعالىٰ د لوئې والي بيا اعلان كېږي خو افسوس دادے چې مونږ هغه لره لوئې منو خو د هغهٔ په دعوت او بلنه باندې د مونځ د ادا كولو دپاره نهٔ ځو.

## د توحيد رسالت

د الله د رسول او د ټولو مومنانو دپاره په عقيده د توحيد باندې ايمان راوړل ضروري دي. د الله تعالىٰ ارشاد دے :

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ ۟ (البقره: ۲۸۵)

پېغمبر(عليه السلام) او مومنانو (ورسره هم) په هغه څهٔ ايمان راوړے دے چې د الله تعالىٰ د طرف نه دهٔ ته نازل شوي دي دوي ټولو، په الله او په ملائېكو او په كتابونو او په پېغمبرانو ايمان راوړے.

په الله تعالىٰ باندې د ايمان راوړولو تقاضه ده چې مونږ الله تعالىٰ لره د ذات او

ټولو صفاتو سره واحد او یو ومنو. د هغۀ عبادت وکړو او په خپلو مشکلاتو او حاجتونو کښې د هغۀ نه مدد وغواړو.

## مونځ

د الله تعالیٰ د وحدانیت اقرار او د حضرت محمدﷺ د رسول کېدو د اقرار کولو یا کلمه وئیلو نه پس په مونږ باندې د مونځ ادا کول فرض کېږي. په قرآن پاک کښې ۷۰۰ اووۀ سوه ځایه د مونځ د قائمولو حکم کړې شوے دے. چې په هغې سره د مونځ د اهمیت اندازه په خپله لګولې شي. مونځ لره ئې د دین ستن هم ګرځولې ده یعنې د دینِ اسلام د ټول عمارت بقا ئې د مونځ په ادا کولو کښې ایښودلې ده. کچرې بنده مونځ ادا کوي نو دے د خپل دین عمارت لره جوړوي.

د الله تعالیٰ ارشاد دے چې د نبي صلي الله علیه وسلم ژوند ستاسو دپاره غوره نمونه ده. الله تعالیٰ دمونځ حکم ورکړے دے. نبي صلي الله علیه وسلم په دې باندې پخپله هم عمل کړے دے او خپل امت ته ئې هم د دې فرض د پوره کېدو حکم ورکړے دے خو افسوس دا دے چې مونږ په دې سنت باندې عمل نۀ کوؤ مونږ په مونځ کښې هم د غفلت مظاهره کوؤ. قرآن مجید لره په ترجمه سره نۀ وایو دې دپاره چې مونږ د اسلامي احکاماتو نه خبر شو. د مونځ په وختونو کښې مونږ په خپل دنیاوي کاروبارونو کښې مصروف یو. دا فکر نۀ کوؤ چې مونږ د الله تعالیٰ او د هغه دَ رسول د حکم ښکاره نافرماني کوؤ بیا هم مونږ توقع ساتو چې مونږ به اوبخښلې شو او د جنت د نعمتونو په طمعه ناست یو. مونځ خو د الله تعالیٰ اطاعت دے او د هغۀ د شکر کولو د اظهار یوه ذریعه ده. د الله تعالیٰ د حاکمیت تسلیم کولو نوم دے. خپل ځان د الله تعالیٰ په مخکښې د سر ښکته کولو نوم دے خو ښکاري داسې چې دا مونږ ته منظور نۀ ده. په ورځ کښې پینځۀ ځله مؤذن اذانونه کوي د الله تعالیٰ مخې ته د ښکته کېدو دپاره وئیلې شي خو په جماتونو کښې د څو خلقو نه بغېر جمات تش تور وي.

## روژه

روژه په اسلام کښې یو اهم رکن دے. د اسلام نه مخکښې په نورو امتونو هم روژه فرض وه. د الله تعالیٰ ارشاد دے:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ (البقره: ١٨٣)

" اې د ايمان خاوندانو! په تاسو باندې روژې فرض کړے شوي دي څنګه چې ستاسو نه مخکښې خلقو باندې روژې فرض کړے شوې وې دې دپاره چې تاسو پرهېزګاره جوړ شئ"

په کال کښې يوه مياشت روژې فرض کړې شوي دي او د روژې مقصد په پاسني آيت کښې انسان لره پرهېزګاره جوړول بيان کړې شوي دي. خو افسوس سره وئيلې کېږي چې په مونږ کښې اکثر دې خبرې ته څۀ توجه نۀ ورکوؤ چې آيا مونږ په حلالې ګټې سره پېشمني او روژه ماتي کوؤ؟ زمونږ اکثر خلق د بجلۍ غلا کوي او د بجلۍ په رڼا کښې د قرآن پاک تلاوت کوؤ. په بجلۍ سره د اوبو موټر چلوؤ او په هغې اودس او غسل کوؤ. د دې ټولوکارونو سره بيا هم مونږ د پرهېزګارۍ طلب کوؤ. آيا په داسې قسمه روژو نيولو سره مونږ له د څۀ فائدې توقع او اميد ساتل پکار دي؟ فکر وکړئ لږ !!

د روژې مقصد انسان لره پرهېزګاره جوړول وو. يعنې انسان د خپل نفس خواهش لره ختم کړي او د بدو نه منع شي دهوکه ورکول دروغ او منافقت لره پرېږدي خو نن اوګورئ دلته ټول هر څۀ اپوټه دي. د رمضان شريف په پاکه مياشت کښې ناجائزه منافع خور د رمضان د راتلو نه مخکښې خپل مسلمانانو ورونړو لره د لوټ کولو تيارے شروع کړي. د خوراک څښاک سامان يا خو غېب کړې شي يا د هغې قيمت دومره زيات کړې شي چې غريب سړے هغې لره نۀ شي اخستلې. بيا هم مونږ توقع ساتو چې الله تعالىٰ به زمونږ دعاګانې واوري، زمونږ حاجتونه به پوره کړي په قرآن پاک کښې ارشاد دے چې الله تعالىٰ ستاسو دعاګانې اوري په دې شرط چې تاسو پرهېزګاره يئ.

فکرکول پکار دي چې د الله تعالىٰ په نزد د يوې روژې څومره اهميت دے کچرې قصدًا يوه روژه ونۀ نيولے شي نو د هغې په بدله کښې د شپېتۀ روژو نيولو حکم دے خو ډېر افسوس! چې په مونږ کښې اکثر نۀ خو پخپله روژې

نیسي او نهٔ د روژه دارو احترام کوي. ښکاره په ښکاره خوراک څښناک او سګریټ څښلو کښې فخر او ځان لوئې ښکاره کوۀ. حالانکې کتلې شوې دي چې څو غېر مسلم خلق هم د رمضان په میاشت کښې د مسلمانانو د تقدس احترام کوي. دا ټول شېطاني اعمال دي. مونږ له پکار دي چې قرآن په ترجمه سره ولولو او د دې شېطاني دهوکو نه د بچ کولو دپاره کوشش وکړو.

## زکوٰة

زکوٰة یو مالي عبادت دے چې په هر عاقل او آزاد مسلمان باندې فرض دے چې د هغهٔ په ملکیت کښې یو کاله پورې د نصاب برابر مال موجود وي. د چا سره چې اووهٔ نیمې تولې سرهٔ زر یا دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر یا د دې مال برابر نغدي وي نو د هغې دوه نیمې فیصد (۲.۵٪) یا څلوېښتمه (۴۰/۱) حصه په زکوٰة کښې ورکول واجب دي. قرآن پاک کښې ځائې په ځائې د مونځ د قیام سره سره د زکوٰة د ادا کولو هم حکم ورکړے شوے دے. د زکوٰة په شکل کښې د مالدارو خلقو په مال کښې د غریبانانو حق اېښودلې شوے دے. دالله تعالیٰ ارشاد دے:

"او ستاسو په مالونو کښې د غریبانانو او مسکینانو حق دے"

د الله تعالیٰ ارشاد دے :

خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَ تُزَكِّيْهِمْ بِهَا (التوبه : ۱۰۳)

"تاسو (پېغمبرعلیه السلام) د دوي د مالونو نه صدقه اخلئ، دې دپاره چې تهٔ دې لره په دې صدقې سره صفا کړې"

په هر صاحبِ نصاب باندې زکوٰة فرض دے په حېثیت د مسلمان د فکر خبره داده چې د کوم مال نه زکوٰة ورکولې شي هغه پاک او صفا وي. د زکوٰة په صورت کښې چې کومې پېسې ورکولې شي هغه بعینه حلال رزق وي. په دې پېسو کښې د چا حق نهٔ وي وهلې شوے په دې پېسو کښې د رشوت، سود او د غلا پېسې نهٔ وي ګډې شوي. همدا د زکوٰة اصل مفهوم دے چې په هغې پوهېدل د هر حېثیت والا سړي دپاره ضروري دي. په حدیث قدسي کښې د الله تعالیٰ ارشاد دے:

" الله تعالیٰ پاک دے او پاک څیزونه خوښوي ".

د دې حديث قدسي نه معلومېږي چې د زکوٰة د مال پاکي او صفا کېدل ځومره ضروري دي. کچرې په دې باندې عمل ونۀ کړې شي نو ټول صدقات او خېراتونه به بې مقصده شي. قرآن پاک مونږ ته د پاکيزګۍ درس راکوي. د قرآني احکاماتو د پښتو ترجمې سره په لوستلو به اصل حقيقتونه ښکاره شي.

## حج

حج په هر هغه مسلمان باندې چې د رسېدو طاقت لري په ژوند کښې يو ځل فرض دے. د الله تعالىٰ ارشاد دے:

وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ (ال عمران :۹۷)

" او د الله تعالىٰ دپاره په خلقو باندې د دې کور حج فرض دے څوک هم چې دې ته د رسېدو طاقت لري".

حج يو عظيم او د مشقت عبادت دے چې د هغې د ادا کولو دپاره يو مسلمان خپل کور، خپل اولاد د کور خلق خپل مور پلار، خپل جائېداد کاروبار پرېږدي د الله تعالىٰ د کور زيارت دپاره ځي. مونږ له پکار دي چې د حج د ادا کولو نه مخکښې په دې خبره ځان مطمئن کړو چې کوم مال زۀ خرڅ کوم حج دپاره ځم آيا دا مال په حلاله طريقه باندې ګټلے شوے دے؟ کچرې مونږ د حج د ادا کولو دپاره حلال مال خرچ نۀ کړو نو بيا زمونږ د دې محنت و مشقت او منډو ترړو کړمې او سفر برداشت کولو څۀ فائده نشته دے.

## د مونځ اهميت

مونځ هغه فريضه ده چې د هغې ادا کول په هېڅ صورت هم پرېښودل نشته دې تردې پورې چې د جهاد په مېدان کښې هم د مونځ د اهتمام حکم ورکړے شوے دے. په قرآن پاک کښې د مونځ قائمولو احکامات ورکړې شوې دي. زما د ناقص رائې مطابق د مونځ د قيام نه مراد د مونځ د ادا کولو په وخت د ژبې نه د ادا کونکو کلماتو مطابق خپل عملي ژوند تېرول دي. خو افسوس دا دے چې اول خو مونږ مونځ نۀ کوؤ او کۀ مونځ کوؤ هم نو مونږ ته د دې کلماتو ترجمه نۀ ده معلومه. چې مونږ په مونځ کښې څۀ وايو، د دې مطلب څۀ دے.

د مونځ په ادا کولو سره په انسان باندې واجب نور فرائض هم پخپله سر ته رسي. د مثال په ډول قرآن پاک کښې انسان ته د حضرت محمدصلي الله علېه وسلم په ذات باندې د درود لېږلو حکم ورکړے شوے دے. پينځۀ وخته مونځ ادا کولو سره انسان کم نه کم په ورځ کښې اوولس (۱۷) ځله درود شريف لولي. نن هر سړے د رسول ﷺ د عشق دعوي کوي خو مونځ نۀ کوي او دغه د درود شريف د وئيلو نه هم محرومه پاتې شي حالانکې رسول کريم ﷺ مونځ لره د خپلو سترګو يخوالے ګرځولے دے.

کوم سړے چې د خپل مرحوم مور پلار د بخښنې خواهش کوي، د دې مغفرت دپاره چې کومه غوره طريقه ښودلې شوې ده هغې باندې عمل نۀ کوي. پينځه وخته مونځ کولو سره انسان کم نه کم اوولس (۱۷) ځله خپل ځان او خپل مور پلار دپاره د مغفرت دعا غواړي. خو نن مونږ خپل ځان او دخپل مور پلار د بخښنې غوښتلو په ځائې رسمونه او رواجونه خپل کړي دي. په قرآن پاک کښې ارشاد دے:

رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِیْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِیْ ۖۗ رَبَّنَا وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِلْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ یَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿۴۱﴾ (ابراهیم: ۴۰ -۴۱)

"اے زما ربه! ما لره مونځ قائمونکے جوړ کړې او زما دَ اولاد نه هم، ما او بخښې او زما مور پلار لره هم او ايمان والو لره، په کومه ورځ چې به حساب قائم وي"

يو بل ځائې ارشاد دے:

وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَ لْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾ (البقرة: ۱۸۶)

"کله چې زما بندګان زما په حقله ستانه سوال کوي نو تۀ ورته اووايه چې زۀ ډېر نزدې يم د هر دعا کونکي دعا لره کله چې هغه مانه دعا وغواړي قبلوم ئې په دې وجه خلقو لره هم پکار دي چې هغوي زما خبره اومني او په ما ايمان وساتي. هم دا د هغوي د ښېګړې سبب دے".

د دې آيت نه صفا معلومه شوه چې الله تعالى دعاګانو لره آوري اوحاجتونه

پوره کوي. په دې وجه مونږ له دالله تعالیٰ دَ در نه نااُمیده کېدل نهٔ دي پکار. د خپل ځان او خپل مور پلار دپاره دَ بخښنې دعا پخپله کول پکار دي.

د مونځ دَ ادا کولو په وخت بنده دَ خپل رب د عبادت کولو او دَ هغهٔ نه دَ مدد غوښتلو اقرار کوي. خو د مونځ دَ ترجمې نه دَ ناخبرتیا په وجه سره نن مونږ د خپلو مسئلو د حل کولو دپاره الله تعالیٰ ته دَ رجوع کولو په ځائې نور بې شمار څیزونه جوړ کړي دي.

د دې رسالې په ذریعې سره زمونږ مقصد خلقو کښې دمونځ کولو شوق پیدا کول او د پښتو ترجمې نه دَ خبرولو سره خپل ژوند د دې مطابق جوړولو درس ورکول دي. نن چې مونږ ته څومره قدرې مسئلې هم راپېښې دي هغه صرف د قرآن د تعلیماتو نه د لرې والي په وجه سره دي. د الله تعالیٰ ارشاد دے:

وَ لَقَدْ یَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۷﴾ (القمر: ۱۷)

"او مونږه قرآن لره د پوهې دپاره ډېر آسان کړے دے بس شته څوك چې په دې باندې ځان پوهه کړي".

ددې آیتِ مبارک نه معلومه شوه چې قرآن پاک الله تعالیٰ آسان کړے دے. په قرآن باندې د پوهې سره د لوستلو حکم په دې وجه کړے شوے دے چې مونږ په خپل ژوند کښې د دې نه رهنمائي حاصله کړو. نېک کارونه وکړو او د ګناهونو نه بچ شو. دا په هغه صورت کښې ممکن ده چې مونږ د دې ترجمه زده کړو په هغې غور وکړو او په هغې عمل وکړو.

نن سبا د قرآن کریم د ترجمې نه د ناخبرتیا په وجه سره مونږ په بې شماره ټولګو کښې تقسیم شوي یو. د ترجمې نه د ناخبرتیا په وجه سره نن ناحقه قتلونو په شان مسائل زغموؤ. زهٔ په یقین سره دا خبره کوم کچرې نن مونږ د قرآن پاک ترجمه زده کړې وے نو کله به هم مونږ چا لره نهٔ وژلو. خو نن زمونږ په معاشره کښې وینه تویول وغیره عام دي. حالانکې په قرآن پاک کښې ارشاد دے:

مَنْ قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَیْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِی الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِیْعًا ؕ

(المائدہ: ۳۲)

"چاچې يو نفس د بل نفس دَ بدلې نه بغېر يا په زمکه کښې د فساد کولو نه بغېر ووژلو نو ګويا هغهٔ ټول انسانيت ووژلو.

په آخره کښې دَ الله تعالیٰ نه دعا ده چې الله تعالیٰ زما دا رساله په خپل در کښې قبوله کړي مونږ ټولو ته د قرآن شريف د ترجمې زده کولو او دَ هغې مطابق د عملي ژوند تېرولو توفيق راکړي. (آمين)

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ (البقرة)

"اے زما ربه! مونږ ته په دنيا کښې ښېګړه راکړه او په آخرت کښې هم ښېګړه راکړه او مونږ د دوزخ د اُور نه وساته"

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَ سَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾

(الصافات: ۱۸۰ ۱۸۲)

"پاک دے ستا رب، چې د عزت خاوند دے، له هغو خبرو نه چې دوي ئې بيانوي او په ټولو پېغمبرانو دې سلام وي او ټول تعريفونه الله لره دي چې د ټولو جهانونو رب دے.

## د مونځ اهميت، فضيلت او فائدې

مونځ د اسلام په بنيادي ارکانو کښې يو اهم رکن دے. د مونځ دپاره اسلام د "الصلوة" لفظ ارشاد فرمائيلے دے چې د هغې معنٰي دُرود و سلام او دعا ده خو د اسلام په اصطلاح کښې هغه طريقه د عبادت چې الله تعالیٰ د جبرائيل عليه السلام او بيا د رسول الله ﷺ په ذريعه مونږ ته وښودله. مونځ د ټولو پېغمبرانو عليهم السلام په تعليماتو کښې شامل او په هر دور کښې فرض وهٔ. د حضرت آدم عليه السلام نه واخله تر حضرت محمد ﷺ پورې هر پيغمبر خپل امت ته د مونځ تاکيد کړے دے او د دې اهميت ئې ورته ښودلے دے. مونځ الله تعالیٰ په مونږ باندې فرض کړے دے او د رسول الله ﷺ سنتو مونځ په عملي ډول باندې زمونږ دپاره ضروري ګرځولے دے. په اسلام کښې ئې مونځ د دين ستن ښودلې ده. ګويا چې د دين پوره عمارت په مونځ باندې قائم دے. مونځ پرېښودل لويه ګناه او دوزخ ته بوتلونکے عمل دے. په قرآن کريم کښې په ګڼو ځايونو کښې د مونځ

حکم راغلے دے. د نبوي معراج ډالۍ ده. په هر حال کښې فرض دے ځکه چې د رب ذوالجلال واضحه حکم دے.

او مونځ د مومن اوکافر په مينځ کښې فرق کوي. کوم سړے چې د مونځ دپاره په اهتمام سره اودس وکړي، په وخت باندې مونځ وکړي او په پوره خشوع خضوع سره رکوع او سجده وکړي، الله تعالیٰ د داسې بنده دپاره پخپله ذمه واري اخلي هغۀ به ددۀ بخښنه وکړي او د هغۀ ګناهونه او خطاګانې به معاف کړي او چاچې د دې نه خلاف رويه اختيار کړه يعنې مونځ ته ئې څۀ اهميت ورنۀ کړۀ او د هغې په کولو کښې ئې غفلت او سستي وکړه داسې سړي دپاره د الله تعالیٰ د طرف نه څۀ ضمانت نشته دے چې دۀ لره ضرور اوبخښي. د دۀ معامله د الله تعالیٰ په مرضۍ باندې ده. کۀ وغواړي نو بخښنه به ورته وکړي اوکۀ وغواړي نو وبۀ ئې نيسي. داسې سړي ته به د هغه په بد عملونو باندې عذاب ورکړي.

په قرآن مجيد کښې دي چې د قيامت په ورځ به د دوزخيانو نه جنتيان تپوس وکړي چې تاسو کوم يو عمل دوزخ ته راوستلئ ؟ نو دوزخيان به په ډېر افسوس سره جواب ورکړي چې مونږ به مونځ نۀ کولو. (المدثر : ۴۲،۴۳)

ګويا چې پينځۀ وخته مونځونه په اهتمام او خشوع خضوع سره کول د بنده او الله تعالیٰ په مينځ کښې يوه معاهده کېږي. په مونځ کښې بنده خپل ټول بدن او پوره زړۀ سره د الله تعالیٰ په مخکښې تيتېږي. د خپلې بندګۍ او د الله د خدايۍ اعتراف کوي. په عاجزۍ سره د هغۀ په دربار کښې حاضرېږي او د خپلې محتاجۍ او دَ هغۀ د عظمت او لويۍ اقرار کوي. د الله تعالیٰ په مخکښې توبه کوي د خپلو ګناهونو د معافۍ او د بخښنې طلب کوي. په جواب کښې ورسره الله تعالیٰ د خپل فضل او کرم او د بخښنې او معاف کولو عهد کوي. د دې نه اندازه لګولې شي چې مونځ څومره غېرمعمولي عبادت او څومره د عظمت والا عمل دے. دا د الله تعالیٰ په دربار کښې حاضري او د هغۀ په نزد د خپلې بخښنې او خلاصي پروانه حاصلولو ډېره اهمه ذريعه ده. کوم خلق چې د مونځ په شان عبادت لره ظاهري رسم او په پوهه کښې نۀ راتلونکے څيز او د دې د اهميت ختمولو کوشش کوي هغوي ته معلومېدل پکار دي چې په مونځ کښې د انسان بدن او اندامونه نۀ

بلکې اصلاً د هغۀ زړۀ او روح د الله تعالیٰ په مخکښې ټيټېږي او د هغه ټول بدن عملاً د الله تعالیٰ د پاکۍ او لويۍ اعتراف کوي. د دې عمل هم دا حقيقت ددۀ دپاره د ايمان او کفر په مينځ کښې حدِفاصل يعني (پوله) جوړېږي او د دې پابندي التزام او اهتمام کونکے انسان د الله تعالیٰ د بخښنې کرم او د نعمتونو حقدار جوړېږي.

په قرآن پاک کښې څو ځله د مونځ قائمولو حکم شوے دے:

"او مونځ قائم کړئ او زکوٰة ورکوئ او د رکوع کونکو سره رکوع کوئ" (البقرة : ۴۳)

يو بل ځائې دالله تعالیٰ ارشاد دے:

" او(اے پېغمبره) هرکله چې تۀ دَمسلمانانو په ټولګي کښې موجود ئې او (دجنګ په وخت کښې) ورته مونځ ورکوې نو دَ دوي يو ټولګے دې تاسره ودرېږي، او خپله وسله دې اخستې (تياره) لري نو هرکله چې سجده وکړي نو روستو دې لاړ شي او بل ټولګے چې مونځ ئې لا نۀ وي کړے هغوي دې وړاندې شي او تا سره دې په مونځ کښې شريک شي." (النساء : ۱۰۲)

په يو بل ځائې کښې د الله پاک ارشاد دے:

"اے ايمان والؤ تاسو رکوع کوئ او سجدې کوئ او د خپل رب عبادت کوئ او (نور) نيک کارونه کوئ دې دپاره چې کامياب شئ".(الحج:۷۷)

بل يو ځائې کښې الله تعالیٰ فرمائي:

"او مونځ قائم کړئ او زکوٰة ادا کړئ او د رسول ﷺ اطاعت کوئ دې دپاره چې په تاسو رحم وشي".(النور : ۵۶)

د مونځ څو بدني، روحاني او طبعي فائدې هم شته دې د کوم نه چې مونږ بالکل ناخبره يو. کچرې انسان ته د مونځ د فائدو پته ولګي نو کله به هم مونځ نۀ پرېږدي. د مسلمان کېدو په وجه مونځ په مونږ باندې فرض کړے شوے دے او دا په هر بالغ سړي او ښځه باندې لازم کړے شوے دے. په دې وجه مونږ له پکار دي چې مونږ د مونځ پابندي وکړو. په مونځ نۀ صرف مونږ د خپل رب شکر ادا کوؤ بلکې په آخرت کښې به هم مونځ زمونږ په اعمال نامه کښې د نيکو د زياتېدو سبب جوړېږي او يقينًا د مونځ پابندي کونکي به په آخرت کښې کامياب وي. په مونځ سره

څنګه چې روحاني سکون مېلاو ېږي نو بل طرفته بدني فائدې هم حاصلېږي.
د سحر په مونځ کولو سره چې انسان ته کومه تازګي مېلاو ېږي په هغې سره انسان ټوله ورځ خوشحاله وي. دغه د ماسپښین مونځ زمونږ دپاره د خوراک نه پس سپک غوندې ورزش جوړېږي او د مازیګر مونځ زمونږ بدن ته آرام ورکوي. د ماښام او ماسخوتن مونځ کولو سره مونږ ته پوره شپه ښهٔ خوب راځي. د مونځ کونکي مخ نوراني او زړهٔ ئې د نور نه ډک وي. بدن ته سکون ملاو ېږي او مونځ د قبر ملګرے دے. په مونځ ګزار باندې د الله تعالیٰ رحمتونه نازلېږي او دا د جنت کُنجي (کیلي) ده. د قیامت په ورځ به مونځ زمونږ د نېکو چابړے درنَوي او مونږ به د دوزخ د اُور نه بچ کوي. په دې شرط چې مونږ مونځ د زړهٔ په پوره توجو سره، آداب او د سُنت مطابق وکړو او د جلتۍ نه کار وانخلو بلکې په قلار قلاره ئې وکړو. مونځ زمونږ صحت برقرار ساتلو کښې اهم کردار ادا کوي. د مونځ د ټولو نه لویه خبره دا ده چې انسان پاک صفا اوسي چې په دې سره هغه د ډېرو مرضونو نه بچ کېږي. او د مونځ دپاره اودس کولو سره ټول بدن دننه او بهر وینځلے کېږي. په دې د انسان زړهٔ او دماغو ته سکون مېلاو ېږي. په مسواک کولو سره غاښونه صفا وي، زیات مرضونه د غاښونو نه پېدا کېږي. په اودس کولو سره درې ځله لاسونه وینځلو سره لاس د جراثیمو نه پاکېږي. په پوزه کښې اوبهٔ اچولو سره د ګرد او جراثیم نه محفوظ کېږي. په مخ باندې درې ځله اوبهٔ اچولو سره مونږ د ګرد، خولې او د څرمنې د غوړوالي نه بچ کېږو. د لاسونو او څنګلو وینځلو او مسح کولو سره د وینې دوران زیاتېږي. د څټ مسح کولو سره مونځ ګزار د چکر، زکام، فالج او د خوب د کمې په شان مرضونو نه محفوظ کېږي. د خپو په وینځلو سره د خپو په مختلف مرضونو کښې کمے راځي. دارنګه د خپو خیرې صفا کېږي. په ورځ کښې پینځه وخته اودس کولو سره د (Depression) مایوسۍ او بلډ پرېشر په شان مرضونه څهٔ حده پوره ختمېږي. مونځ مونږه د سستۍ او ناراستۍ نه بچ کوي. مونږه د وخت پابند جوړوي، دا مونږه د بې حیایۍ او بدوکارونو نه منع کوي. په مونځ کښې نېغ اودرېدو سره د ملا هډوکي ته سکون مېلاو ېږي. په مونځ کښې رکوع کولو سره د ملا دَ درد نه خلاصے مېلاو ېږي او دخېټې او معدې

او کولمو کار ورسره غوره کېږي. د سجدې په حالت کښې وينه زمونږ دماغو ته رسېږي. د سجدې په وجه زمونږ سترګو، غوږونو او څټ ته آرام مېلاوېږي. په مونځ کښې دوارو لاسونه د غوږونو پورې اوچتولو سره د متو د څټ او اوګو د پټو ورزش کېږي. د جديد تحقيق مطابق خو د زړۀ د مريض دپاره داسې ورزش ډېر زيات فائده مند ثابت شوے دے چې د مونځ په کولو سره په خپله کېږي. دا ورزش په عام حالت کښې د فالج دخطرې نه هم محفوظ ساتي. په مونځ کښې سجده کولو سره دزړۀ بوج سپکېږي ځکه چې د انسان د بدن وزن په دوارو لاسونو باندې وي. سترګې د سجدې په ځائې باندې لګېدو سره هم زړۀ يوازې وي او د وينې په روانئ کښې آساني پېدا کېږي. په دې سره په انسان کښې قوتِ مدافعت او د هغۀ په اعصابوکښې قوت پېدا کېږي. د دوارو سجدو په مينځ کښې ناسته ګيټې او پنډئ مضبوطوي. د مونځ په ختمولو سره سلام ګرځولو سره د څټ عضلاتو ته طاقت مېلاوېږي چې په هغې سره انسان تروتازه او مضبوط وي.

وائي کچرې بنده دا غواړي چې د هغۀ رب دې د دۀ سره خبرې وکړي نو قرآن پاك دې ولولي اوکه غواړي چې بنده دې په خپله د خپل رب سره خبرې وکړي نو مونځ دې وکړي.

طلبه وطالباتو ته معلومېدل پکار دي چې تاسو باندې دمونځ ترجمه ځکه ياده کړې شوه چې تۀ مونځ ګزار جوړ شې او د مونځ ادا کولو په وخت دې تاته معلومه وي چې تۀ الله تعالیٰ سره څۀ خبرې کوې چې په هغې سره ستا په مونځ کښې سکون او د الله تعالیٰ سره د تعلق جوړولو احساس پېدا شي.

بېشکه مونځ دبدئ او بې حيايئ نه منع کوي خو ضروري ده چې د مخکښې نه مونځ د هغۀ د شان مطابق وکړې شي.

طلبه دې په اخلاقي اعتبار سره خپل ځان غوره جوړ کړي. تل دې د ځان نه د لويو عزت او د وړو دې خيال ساتل زده کړي. د خپلو بزرګانو او استاذانو دې احترام کوي. خپل مور پلار ته دې وخت ورکړي اوکۀ هغوي ئې ورته نو د هغوي خبرې دې پرې بدې نۀ لګي. د هغوي په خبرو دې عمل کوي. مور پلار او استاذان به ستاسو د فائدې خبرې کوي. خپله فېصله پخپله کولو په ځائې د

مور پلار سره مشوره وکړئ. صلاح مشوره کول ډېر ښهٔ عمل دے چې په هغې سره انسان ډېره ښهٔ فېصله کوي او د نقصان پېښه کمه وي. د وخت پابندي کول زده کړئ. د پينځهٔ وخته مونځ پابندي به تا پخپله د وخت پابند کړي. د خپلو ګاونډيانو خيال ساتئ. د هغوي په غم درد کښې د هغوي سره شريک کېږئ. څومره چې هم ستا نه ممکنه وي د ضرورت مندو مدد کوئ. قرآن مونږ ته د اخلاص درس راکوي. د پېغمبر علېه السلام ژوند د اخلاقو غوره عملي نمونه ده. کچرې زمونږ په حقيقت کښې د نبي علېه السلام سره دومره محبت دے څنګه چې مونږ په عام ډول باندې ښکاره کوؤ مونږ له د هغوي د قدم په نښه باندې تلل پکار دي. د کومو خبرو چې نبي علېه السلام مونږ ته حکم راکړے دے په هغې عمل کول پکاردي او د کومو نه چې ئې منع کړې نو د هغې نه بچ کېدل پکاردي. ګني مونږ ته به منافقان اوئيلې شي د چا ټکاؤنه چې دوزخ دے چې د هغې خشاک به انسانان او کاڼي وي. څنګه چې په يو بل باب کښې د السلام علېکم په حقله په تفصيل سره ښودلې شوي دي. کوشش کوئ چې د هېلو او هائے په ځائې د السلام علېکم نه د خپلو خبرو ابتداء کوئ. دا يو دعاده چې تاسو ئې د نورو دپاره د الله تعالیٰ نه غواړئ چې دهغې په جواب کښې تاته هم دعا کولې شي. الله تعالیٰ السلام علېکم وئيل مونږ ټولو دپاره د بخښنې ذريعه جوړه کړې ده. دغه شان په بل باب کښې د بسم الله نه دکار شروع کولو بيان موجود دے. د بسم الله نه کار شروع کولو سره په دې کار کښې دالله تعالیٰ رضا شاملېږي او د هغهٔ د مدد اُميد روښانه کېږي. مونږ اکثر د څهٔ کار په شروع کښې الله نهٔ يادوؤ نونتېجه د هغه کار بده وي. بيا مونږ وايو الله تعالیٰ ته هم دا منظوره وه. د خپلې غلطۍ نسبت الله تعالیٰ ته کول هم لويه ګناه ده.

الله تعالیٰ دروغ وئيل منع کړي دي. په قرآن پاک الله تعالیٰ فرمائي چې په دروغژن باندې دې د الله تعالیٰ لعنت وي. يعنې الله تعالیٰ د دروغژن شکل ليدل هم نهٔ خوښوي. مونږ د دروغو دومره عادت شوې يو چې رښتيا وئيل مو پرېښودلي دي. واړهٔ واړهٔ دروغ وئيلو سره مونږ دومره عادت شوي يو بيا يو وخت داسې راشي چې بيا د دروغژن په رښتياؤ هم څوک يقين نهٔ کوي. تل رښتيا وايئ

او د رښتونو ملګري اوسئ. په قرآن کښې حکم دے چې کۀ په رښتيا وئيلو کښې چرې ستا نقصان هم وي نو بيا هم رښتيا وايه. مور پلار او استاذانو له هم پکار دي چې پخپله هم د دروغو نه بچ شي او خپل بچو او شاګردانو لره هم د دروغو نه منع کړي او د رښتيا وئيلو ورته تلقين وکړي. بچي د خپل مور پلار نه اثر اخلي او ښۀ او بده خبره د هغوي نه زده کوي. کچرې اولاد خپل مور پلار په رښتيا وئيلو او د دروغو نه په ځان ساتلو باندې اوويني نو هغه به په خپله هم د دروغو نه ځان ساتي. اکثر ليدلې کتلې خبره ده چې کۀ څوک کور خوا ته راشي نو مور پلار بچو ته وائي چې بهر لاړ شه ورته وايه چې پلار مې کور نشته دے. چې نۀ صرف بد عادت دے بلکې ستا د دې بد عادت نه به په بچي کښې هم د دروغو وئيلو عادت راشي چې د دې نه په هرصورت کښې ځان ساتل پکار دي.

د مسلمان امت د اخلاقي زوال د ټولو نه وړومبے سبب د مور پلار د خپلو بچو تربيت نۀ کول دي. وائي چې د مور غېږه د بچي وړومبۍ درسګاه وي او مور پلار د خپلو بچو دپاره رول ماډل وي. د اخلاقو او کردار ښائسته کولو غوره دور ماشوموالے دے. هر مور پلار دا غواړي چې د هغوي بچې د هرې بدۍ نه بچ شي خو آيا هغه د دې دپاره عملي کوشش هم کوي؟ هغه په خپله د الله تعالیٰ په احکاماتو باندې څومره عمل کوي؟ هغه په کور په خپله خو د بچو په موجودګۍ کښې دروغ وائي خو غواړي دا چې د هغۀ بچي دې هغۀ ته دروغ نۀ وائي. په خپله خو د بچو په مخکښې کنځلې کوي خو خپل بچي د کنځلو نه لرې ساتل غواړي. دا هله ممکن کېدې شي کله چې مونږ په خپله په دې خبرو باندې عمل کوؤ.

تل په اودس کښې اوسئ او د خپلې صفايۍ خيال ساتئ، خپل ځان سره د خپل کور صفائي د کوڅې او مکتب د صفايۍ اهتمام کوئ، د صفائۍ نۀ کولو په وجه سره ځائې په ځائې ډېران جوړېږي چې د مچانو او ماشو د نسل زياتېدو ذريعه جوړېږي. دې مچانو او ماشو سره مرضونه خورېږي. په دې مرضونو کښې د مبتلا شوي کسانو په علاج باندې کۀ يو طرفته په لکهونو روپۍ خرچ کېږي نو بل طرفته دا مرضونه د مريض دپاره د تکليف باعث هم وي. کچرې د صفايۍ خيال ساتل شروع کړئ نو نۀ صرف د دې مرضونو او تکليفونو نه بچ کېدې شئ

بلکې د دې په علاج معالجه باندې غیرضروري اخراجاتو نه هم بچ کېدې شئ. په لاره کښې کۀ څۀ څیز پروت وي چې د هغې نه د نقصان وېره وي نو هغه اوچت کړه او لرې ئې وغورزوه. د خوراک په وخت کښې پرېږده چې مشران مخکښې شروع وکړي. د ناستې په وخت مخکښې هغوي ته ځائې ورکوئ.

تل حلال رزق خورئ اګر چې لږ ولې نۀ وي. حرام رزق خوا کۀ یوه نوړۍ (یو قپ) ولې نۀ وي مۀ خورئ او مۀ حرام رزق ګټئ. ځکه چې د حرامو یوه نوړۍ (یو قپ) زمونږ ټول عبادتونه ختموي. د هر غریب مسکین او ضرورت مند د خپل وس مطابق مدد کوئ. د چا زړۀ مۀ آزاروئ. د هر چا نه دعا اخلئ. لالچ مۀ کوئ. د چا پېشې شا د هغۀ بدي مۀ بیانوئ. بغېر د اجازت نه د چا څۀ څیز (بسته، کاپي، پنسل وغېره) ته ګوتې مۀ وروړئ دې ته غلا وائي. کۀ د چا څیز استعمالوئ نو اول د هغۀ نه اجازت اخلئ. د قراني تعلیماتو دا ټولې طریقې زمونږ خوږ نبي ﷺ مونږ ته ښودلي دي. کۀ په ناپوهتیا کښې ستا نه څۀ غلطي وشي نو فورًا خپله غلطي اومنئ او معذرت وکړئ. کۀ دوېمه غلطي درنه وشي نو معافۍ غوښتلو کښې تاخیر مۀ کوئ. تل د صبر نه کار اخلئ. الله تعالیٰ د صبر کونکو سره دے.

کچرې تاته څوک څۀ ډالۍ درکړي یا ښۀ مشوره درکړي نو د هغۀ شکریه ادا کړه دې دپاره چې راتلونکي وخت کښې هم دا کار جاري وساتي. څۀ قسمه هم ګنده او خرابه خبره په خُلۀ مۀ راوله. چاته کنځل مۀ کوه نوم مۀ ورانوه او په هغه نوم ورته آواز مۀ کوه. په غلط نوم سره آواز کولو سره د یو بل په زړۀ کښې نفرت پیدا کېږي چې د جنګ جګړو ذریعه جوړېږي. ټول مسلمانان خپل مینځ کښې وروڼه وروڼه دي. په دنیاوي اعتبار سره چې مونږ کوم ذاتونه او قومونه جوړ کړي دي هغه صرف د پېشې په اعتبار سره دي. هېڅ یو انسان د بل انسان نه کم تر یا اعلیٰ نۀ دے بلکه ټول انسانان د یو آدم علیه السلام اولاد دے او په مرتبه او حېثیت کښې برابر دي. بلکې انسانیت د یو مذهب هم محتاج نۀ دے بلکې د حقوقو په حوالې سره غېرمذهب ته هم هغه حقوق حاصل دي کوم چې تاته حاصل دي.

جینکۍ دې په خاص ډول د خپلې پردې خیال ساتي. مور پلار، استاذان او درس قرآن کونکي قاریانو صاحبانو له پکار دي چې هغوي جینکو ته د پردې

مقاصد بیان کړي چې هغوي ته اووائي چې پرده صرف په سر باندې لو پټه اچول مقصود نۀ دے بلکې سینه او ګرېوان هم پټول پکار دي د پردې مقصد ټول بدن پټول دي پرده نۀ کول او بدن ښودل ډېره لو یه ګناه ده. دا نۀ چې صرف د مدرسې یا سکول ته د تلو په وخت خو د پردې اهتمام کوي او د ودونو او خوشحالو په موقعه باندې او بازار ته د تلو په وخت برقعه یا څادر وغورزوي. پورته چې کومې ښې خبرې وښودلې شوې هغه ټولې په قرآن کښې موجودې دي. الله تعالی مونږ ته د ښو خبرو او د ژوند تېرولو د طریقې زده کولو دپاره قرآن نازل کړے دے او زمونږ خوږ پیغمبر علیه السلام لره ئې عملي نمونه جوړه کړې رالېږلے وۀ. خو افسوس دا دے چې مونږ ترننه پورې په دې خبرو باندې عمل ونکړو ځکه چې مونږ د قرآن پاک ترجمه نۀ وایو.

اُستاذ ته د قوم معمار او روحاني پلار وئیلې شي. یعنې استاذ د قوم د بچي د تعلیم او تربیت کولو سره هغۀ یو ښۀ انسان جوړوي. او دغه شان د معاشرې او قوم تعمیر وترقي کولې شي. د قوم د ټېکس په پیسو سره هغوي ته تنخواګانې ځکه ورکولې شي چې د دې معاوضې په عوض به د طلباؤ تربیت کوي. خو نن په ډېر معذرت سره وئیلې کېږي چې استاذانو دا د روزګار د ذریعې تر حده پورې محدود ګڼړلې ده. او په کوم فکر و جذبې سره چې طلباؤ د تربیت ضرورت دے هغه بعضې بعضې ځایونو کښې لیدلې شي. دغه شان د مسلمان معاشرې د اخلاقي زوال هم استاذان ذمه وار دي. کچرې هغوي دې طرف ته هم پوره توجه کړې وے نو نن به صورت حال مختلف وۀ. استاذان د نصابي کتابونو تدریس هم ګران ګڼي. اول خو هغوي د ماشومانو د قرآن پاک تعلیم طرف ته توجو نۀ کوي. او کۀ توجو ور هم کړي نو هغه هم صرف عربۍ ژبې پورې محدود وي. نتېجه دا چې د قرآن پاک د تعلیم اصل مقصد حاصل نۀ شي. اسلامي معاشره نن په زوال ده. څنګه چې د درسي کتابونو تدریس د حکومت او د تعلیم د محکمې د طرف نه په استاذانو باندې فرض دے. دغه شان بلکې د دې نه هم زیات د قرآن پاک تعلیم ورکول هم یو مذهبي فریضه ده لهٰذا ټولو استاذانو ته درخواست دے چې چرته هغوي د درسي کتابونو تعلیم ورکوي نو هغوي دې لږ شان محنت په مذهبي جذبې سره د سحر د

اسمبلۍ په وخت کښې د ماشومانو د قرآن پاک د ترجمې په تعليم هم وکړي دې دپاره چې د قرآن پاک تعليم د هغوي په زړونو کښې نقش شي او چې لوئې شي نو يو ښۀ انسان او د ملک يو ښۀ اوسېدونکے جوړ شي.

شېطان په څۀ نه څۀ حيلې بهانې سره مونږ په دې ښو خبرو باندې دعمل کولو نه منع کوي. هغه خو غواړي چې مونږ دالله تعالیٰ احکامات ونۀ منو او دوزخ ته لاړ شو. ځکه چې هغه خو په خپله دوزخي دے خو هغه دوزخ ته يوازې تلل نۀ غواړي.

په آخره کښې د مور پلار او استاذانو په خدمت کښې درخواست دے چې د ماشومانو تربيت د هغوي په لاس کښې دے. ستاسو تربيت هغه سبا يو نېک انسان يا بد انسان جوړوي. مور پلار او استاذان ماشومانو له په هرقدم د وړې او لوئې بدۍ نه بچ کولې شي. خصوصًا د استاذانو په لاس د يو قوم تعمير کېږي. کۀ هغه پوره کوشش وکړي چې د ماشومانو کردار پوره په اسلامي طريقه باندې وي.

نن په ملک کښې فحاشي، بې حيائي، بې ايماني، دروغ ،کبر بې شماره بدۍ عام دي. دې خلقو د مکتبونو او پوهتنونو نه تعليم حاصل کړے او سندونو اخستلو سره هم ښکاره په بدو کښې مبتلا دي چې د هغې سبب د مور پلار او استاذانو د ښۀ تربيت کمے دے. مور پلار او استاذان بچي تر ډګرو پورې محدود ساتي. کچرې ښۀ قوم جوړول وي، ښۀ انسان جوړول وي نو د دوي مکمل رهنمائي او اخلاقي تربيت به هم کول وي او دا صرف د قرآن پاک په مقامي ژبه کښې په تعليم سره ممکن دي.

د مونځ د دې نه علاوه هم څو فائدې او مصلحتونه دي.

**(۱) د ژوند د مقصد يادونه:** د انسان پوره ژوند د عبادت جوړولو ضرورت دے. چې انسان ته يقين ورکړے شي چې هغه د الله تعالیٰ بنده دے. په دې وجه هر ورځ پينځۀ ځله د يادونې دپاره مونځ فرض کړے شوے دے چې هغه د دنيا کارونه پرېږدي خپله وعده ياده کړي او د بدو نه منع شي. مونځ کونکے انسان د خپل الله نه وېرېږي او د بدو او بې حيايۍ د کارونو نه ځان ساتي. ځکه چې ددۀ ذهن د الله تعالیٰ په يادولو کښې لګيا وي نو بدو طرف ته د هغۀ فکر او سوچ ډېر کم ځي او کچرې داسې سوچ هم وکړي نو د دې احساس سره په دې

باندې عمل نهٔ کوي. چې الله تعالیٰ ته به په کوم مخ ورځم. د مونځ د ټولو نه لویه فائده داده چې مونځ انسان لره د نیغې لار نه نهٔ اړوي او د غلطو کارونو نه ئې منع کوي. په قرآن پاک کښې ارشاد دے:

"بېشکه مونځ تاسو لره د بې حیایۍ او ګناهونو نه منع کوي". (العنکبوت : ۴۵)

**( ۲ ) فرض شناسي :** کچرې انسان فرض شناس نهٔ وي نو په خپله د دهٔ ژوند به په بې پرواهۍ کښې تېرېږي چې په خپله د دهٔ دپاره به هم د پرېشانۍ سبب جوړېږي. په دې وجه مونځ انسان کښې د فرض شناسۍ صفت پېدا کوي او کله چې هغه د مونځ عادي شي نو د خپل مقصد په حاصلېدو کښې هغه ته ډېر مدد ورکوي.

**(۳) تعمیرِسیرت :** د مونځ درېمه فائده د سیرت تعمیر دے چې د دهٔ ژوند ته ډېره لویه فائده ورکوي او دهٔ ته داسې لاره ښائي چې په هغې باندې تلو سره د ژوند په هره حصه کښې کامیاب او بامرادکېږي او هم دا سیرت دے د نورو نه ممتاز کوي. خواه که د دهٔ سیاست سره واسطه وي یا عدالت سره، سوداګرۍ سره وي یا څهٔ فن سره، کهٔ صُلح وي یا جنګ غرض دا چې د ژوند په هره پوړۍ دهٔ لره کامیابوي.

**(۴) ضبط نفس :** انسان لره خواهشات او نفس په قلاره نهٔ پرېږدي په دې وجه دهٔ ته کله هم سکون نهٔ مېلاوېږي خو مونځ انسان ته په نفس باندې قابو ښائي. د مثال په ډول هغه د مونځ دپاره په یخنۍ کښې په یخو اوبو اودس کوي، په یخنۍ کښې سحر وختې پاسي او مونځ کوي په دې سره هغه نفس لره په قابو کښې راولي. هغه د بې حیایۍ او بدکارونو نه ځان ساتي.

**(۵) د مشکلاتو حل :** مونځ زمونږ د مشکلاتو هم حل دے. نبي علېه السلام ته چې به کله هم څهٔ مشکل راپېښېدو یا به په څهٔ خبره باندې غمګین شهٔ نو نبي علېه السلام به مونځ کولو. د الله تعالیٰ ارشاد دے :

"دا مونځ ډېر درون دے خو په هغه خلقو باندې نهٔ دے چې څوک د الله تعالیٰ نه وېرېږي". (البقرة : ۴۵)

"اے ایمان والو! د صبر او مونځ په ذریعه سره (د الله تعالیٰ) نه مدد طلب کړئ". (البقرة:۱۵۳)

(۶) **د شېطان نه پناه:** د مونځ په ذریعې سره په ورځ کښې مونږ پېنځۀ ځله د شېطان رټلي شوي نه پناه غواړو.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيمِ

ترجمه: زۀ پناه غواړم په الله تعالیٰ سره دَ شېطان رټلي شوي نه.

(۷) **د وحدانیت اقرار:** په مونځ کښې مونږ د الله تعالی دا وحدنیت اقرار کوؤ. هغۀ لره یوازې او واحد لاشریک منو. د هغۀ یو والے تسلیموؤ. د سورة اخلاص ترجمه ده:

"تۀ ورته اووایه چې الله یو دے، الله بې نیازه دے. نۀ د هغۀ څوک اولاد شته نۀ هغه د چا نه پېدا دے او نۀ د هغۀ څوک برابر شته".

(۸) **د الله تعالی د تعریف او لويي ذریعه:** د مونځ په شروع کښې مونږ د الله تعالیٰ تعریف بیانوؤ.

**ثناء:** (اے الله مونږ ستا پاکي بیانوؤ او ستا تعریف کوؤ او ستا نوم ډېر برکت والا دے او ستا بزرګي ډېره اوچته ده او ستا نه بغېر بل څوک د عبادت مستحق نشته.)

(۹) **د توحید ورسالت ګواهي:** مونږ په ورځ کښې پېنځۀ ځله د دې خبرې ګواهي ورکوؤ چې د الله نه بغېر بل معبود نشته دے او حضرت محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے.

**تشهد:** (زۀ ګواهي ورکوم چې د الله نه بغېر بل څوک معبود نشته او زۀ ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او رسول دے)

(۱۰) **مونځ د دعا غوره ذریعه:** د دعا په غوښتلو سره د الله تعالیٰ د حکم تابعداري کېږي. د الله تعالیٰ حکم دے چې زما نه دعا غواړه. څنګه چې په قرآن پاک کښې ارشاد دے:

وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ

ترجمه : او ستا رب فرمائیلي دي: زما نه دعا غواړه زۀ به ئې قبلوم.

او مونځ د دُعا غوره ذریعه ده. په دې کښې مونږ پینځۀ ځله د الله تعالیٰ نه دا دُعا غواړو چې :

ترجمه:" ما د مونځ پابند جوړ کړه، ما لره او زما مور پلار او ټولو مسلمانانو لره وبخښې"

څنګه چې زمونږ فرض جوړیږي چې د مور پلار دپاره دعا وکړو خواه کۀ هغوي ژوندي وي یا وفات شوي وي. په مونځ کښې مونږ دا دعا هم غواړو چې :

"مونږ په نېغه لاره روان کړه، د داسې خلقو لاره په چا چې تا انعام کړے دے نۀ د هغه خلقو په لاره باندې په چا چې ستا غضب شوے دے او نۀ د ګمراهانو په لاره باندې"

**د شکر ادا کولو غوره ذریعه :** الله تعالیٰ مونږ ته بې پناه او بې شماره نعمتونه راکړي دي. هم هغۀ مونږه په یو ښائسته شکل کښې پیدا کړي یو. مونږ ته ئې لاس پښې، سترګې، غوږونه، زړۀ او دماغ راکړي دي. دنیا او دَ دنیا هر څیز ئې زمونږ دپاره مسخر کړے دے. انسان لره ئې په ټولو مخلوقاتو کښې افضل جوړ کړۀ. هوا، اوبۀ، څربدونکي ځاروي، مرغۍ، ونې ټول یې د انسان دپاره جوړ کړي دي، دې دپاره چې انسان دې څیزونو لره په خپل استعمال کښې راولي او خپل ضرورتونه ترېنه پوره کړي.

هم الله تعالیٰ انسان ته رزق ورکوي. د هغۀ د آرام و سکون دپاره ئې د دنیا هر څیز د دۀ تابع کړے دے. انسان د الله تعالیٰ د پیدا کړي هر څیز نه خوند اوچتوي خو چې کله نمبر راغلو د هغه رب ذوالجلال د رحمتونو او د برکتونو د شکر ادا کولو نو مونږ په دې معامله کښې ډیر ناشکره پاتې شو. مونږ د هغۀ د پیدا شوي څیزونو نه فائده خو اوچتوؤ خو د هغۀ د ذات شکریه ادا کول هېرَوؤ. کچرې د یو منټ (د یوې دقیقې) دپاره هوا اودریږي نو انسان چې په خپل

ځان باندې دومره غرور وکبر کوي ساه به وانخلي. خو انسان د دې نعمتونو شکریه نۀ ادا کوي. دا هم د انسان فطرت دے چې کله دۀ ته څۀ مصیبت ورسېږي نو الله یادوي خو چې کله هغه مسئله حل شي نو بیا الله تعالیٰ لره هېر کړي. مونږ له په هر حال او هر ځائې کښې د الله تعالیٰ د نعمتونو شکریه ادا کول پکار دي او د الله تعالیٰ د شکریه ادا کولو غوره او ښۀ ذریعه مونځ دے.

( ۱۲ ) **مونځ یو عبادت**: د مونځ د کولو په وخت بنده د خپل رب د عبادت کولو او د هغۀ نه د مدد غوښتلو اقرار کوي. الله تعالیٰ انسان لره د خپل عبادت دپاره پیدا کړے دے او مونځ یو ډېر لوئې عبادت دے. هم دا هغه څیز دے چې د یوکافر او مسلمان په مینځ کښې فرق کوي.

( ۱۳ ) **په نبي ﷺ باندې د درود وسلام ذریعه**: په مونځ کښې مونږ په نبي علیه السلام باندې درود او سلام لېږو.

(۱۴ ) **د قیامت په ورځ دټولو نه وړومبے سوال**: د قیامت په ورځ به د ټولو نه وړومبے سوال د مونځ په حقله کېږي. کچرې هغه صحیح شۀ نوکامیابي ئې ومونده اوکۀ په هغې کښې کمے وۀ نو هغه به رسوا وي او نقصان ئې اوچت کړو.

( ۱۵ ) **د دنیا او آخرت ښېګړې**: د دنیا او آخرت ښېګړې د مونځ په قائمولو کښې پټې دي. مونږ نن د دنیا په معاملاتو کښې دومره قدرې ورننوتلې یو چې د مونځ په شان ښائسته څیز رانه هېر دے. مونږ د دنیا د ټولو معاملو دپاره وخت ویستلے شو خو چې کله د مونځ اوئیلې شي نو جواب مېلاوېږي چې " مونږ سره وخت نشته" د ټي وي کتلو دپاره وخت شته، د خوب دپاره هم وخت مېلاوېږي، د خوراک کولو دپاره هم وخت شته او کار کولو دپاره هم وخت شته خو کۀ وخت نۀ مېلاوېږي نو صرف د مونځ دپاره............

افسوس! او په دې خبره پوهه دي چې د دنیا و آخرت ښېګړې صرف د مونځ په قائمولو کښې دي. کوم کس چې د مونځ پابند وي هغه په دې دنیا کښې هم

کامیاب اوسي او په آخرت کښي به هم کامیابي مومي.

مونږ د پورته بیان شوي فائدو نه صرف هغه وخت زیاتو نه زیات مستفید کیدي شو کله چې مونږ د مونځ په معنٰي او مطلب باندي پوهیږو. اکثر لیدلي کتلي خبره ده چې بعضي وختونو کښي په مونځ کښي زړۀ نۀ لګي. کله چې مونځ شروع کړي نو شیطان او نفس په پوره طاقت سره مقابلي ته راشي چې د هغې په وجه سره ئي په زرګونو قسمه وسوسې او خیالات راګیرکړي چې په هغې سره د زړۀ توجه او د روح سکون ختم شي بلکه څو ځله خو دا هم یاد نۀ وي چې مونږ څو رکعته وکړل. په داسي حالت کښي د مونځ پریښودلو ویره پیدا شي. په قرآن پاک کښي ارشاد دے:

"مونځ هغه وخت کوه کله چې تۀ پوهیږي چې څۀ وایم" (النساء: ۴۳)

د مونځ د کمال او د ښائستوالي دپاره کوشش کول پکار دي چې د هغې غوره طریقه د مونځ د ترجمې نه ځان خبرول پکار دي. د ترجمې نه د خبریدو سره مونږ هغه د زړۀ سکون او اطمینان حاصلولي شو. د مونځ د دعاګانو معنٰي او مطلب په ذهن کښي ساتلو سره په مونځ کښي د شیطاني وسوسو نه بچ کیدلي شي او الله تعالٰی سره د خبرو اترو کیدو شرافت حاصلیدي شي الله تعالٰی فرمائي:

"شروع کوم د الله تعالٰی په نوم چې لوئې مهربانه او ډیر رحم کونکے دے، ټول تعریفونه د الله تعالٰی دپاره دي چې د ټول جهان مالک دے. لوئې مهربان ډیر رحم کونکے دے. د قیامت د ورځې مالک دے. اے الله مونږ ستا عبادت کوؤ او هم ستانه مدد غواړو. مونږ ته نیغه لاره وښائې. د هغه خلقو لاره په چا چې تا انعام کړے دے. او نۀ د هغه خلقو لاره په چا چې ستا غضب شوے دے، او نۀ د ګمراهانو"

د سورۃ فاتحې ترجمه یادول او په هغې پوهیدل ډیر ضروري دي ځکه چې دا آیاتونه د پوره قرآن پاک خلاصه بیانوي. د آیتونو د ترجمې نه پته لګي چې مونږ د خپل رب سره دوه وعدې کوؤ:

**اوله وعده:** اِیَّاكَ نَعْبُدُ (مونږ هم ستا عبادت کوؤ)

د عبادت لفظ د عبد نه دے چې د هغې معنٰي غلام ده. غلام هرکار د خپل مالک د حکم مطابق کولو پابند وي. لهٰذا کله چې مونږ مونځ کوؤ «اِيَّاكَ نَعۡبُدُ» نو مونږ خپل مالک الله تعالیٰ سره وعده کوؤ چې مونږ به هرکار ستا د حکمونو مطابق کوؤ. څومره اهمه وعده ده چې مونږه ئې الله تعالیٰ سره کوؤ خو د عمل کولو په وخت مونږ اکثر د دې نه شاته کېږو لو کله دنیا لره اوکله رشته دارۍ لره او اکثر خپل نفس لره خپل حاکم جوړوؤ. آیا داسې بنده ته د الله تعالیٰ غلام وئیلے شي؟ کله چې یو غلام خپل کار په صحیح طریقې سره نۀ کوي نو مالک به د هغۀ تنخواه بنده کړي. د ابلیس سره بې شماره علم وۀ، د الله عبادت به ئې هم کوؤ ، هغه کله هم دروغ نۀ وؤ وئیلې کله ئې شرک هم نۀ وۀ کړے هغۀ وعده خلافي نۀ کوله، هغه غیبت نۀ وۀ کړے، غلا ئې نۀ وه کړې، ملاوټ ئې نۀ وۀ کړے، د چا حق ئې نۀ وۀ وهلې. صرف او صرف د الله تعالیٰ د یو حکم نافرماني ئې وکړه چې د هغې هغۀ ته دا سزا مېلاؤ شوه چې ترقیامته پورې د جنت نه اوو یستلے شۀ.

لږ فکر وکړئ ! نن مونږ څومره نافرمانه شوي یو. په ورځ کښې پینځۀ ځله مؤذن د مونځ دپاره رابلل کوي مونږ پرې سترګې پټې کړو. قرآن پاک نۀ وایو، وعده نۀ پوره کوؤ، رشوت عام دے، ملاوټ کېږي، دروغ عام وئیلې کېږي. غلا ګانې کېږي. غرض دا چې هره بدي موجوده ده.

کچرې په یوه نافرمانۍ باندې شېطان ورټلے شۀ نو آیا مونږ به معاف کړې شو؟

**دویمه وعده : اِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ** (او مونږ هم ستانه مدد غواړو).

کله چې مونږ د الله تعالیٰ غلامان یو نو مونږ ته چې کله هم څۀ مشکل راپېښ شي نو مونږ ته د مدد دپاره هم خپل مالك الله تعالیٰ ته آواز کول پکار دي کچرې داسې ونکړو نو زمونږ مالك چې په هر څیز باندې قدرت لري زمونږ نه خفه شي او مونږ به د خپلې غلامۍ نه وباسي او مونږ به مشرکان شو چې د هغې سزا الله تعالیٰ تل ترتله دوزخ مقرر کړے دے.

## د اودس بیان

يَاۤيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا قُمۡتُمۡ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغۡسِلُوۡا وُجُوۡهَكُمۡ وَ اَيۡدِيَكُمۡ اِلَى الۡمَرَافِقِ وَ امۡسَحُوۡا بِرُءُوۡسِكُمۡ وَ اَرۡجُلَكُمۡ اِلَى الۡكَعۡبَيۡنِ ؕ (مائده: ۶)

"اے ایمان والو! کله چې تاسو مونځ دپاره پاسئ نو خپل مخونه اووینځئ او خپل لاسونه تر څنګلو پورې او خپل سرونو باندې مسح وکړئ او پښې اووینځئ تر ګیټو پورې".

(نوټ): د مونځ دپاره اودس ضروري دے بغیر د اودس نه مونځ نۀ کیږي.

## د اودس طریقه

ورومبی پاکي حاصلول او د ثواب نیت کول او بسم الله وئیلو سره درې ځله دواړه لاسونه د ګیټو پورې وینځل بیا درې ځله په خُلۀ کښې اوبۀ اچول او مسواک کول بیا درې ځله په پوزه کښې اوبۀ اچول او په ګس لاس سره پوزه پاکول بیا درې ځله مخ وینځل چې د تندي د وېښتو نه د زنې د لاندې پورې او د دواړو غوږونو د نرمو پورې چې هېڅ یو ځائې هم وچ پاتې نۀ شي کچرې ږیره وي نو د هغې خلال کول. بیا درې ځله دواړه لاسونه تر څنګلو پورې ورومبے ښے او بیا ګس لاس وینځل بیا په نوې اوبو سره لاسونه لوندول د پوره سر یو ځل مسح کول دارنګه چې د تندي د وېښتو نه د دواړو لاسونو درې واړه ګوتې راښکل او تر څټه پورې وړل او بیا د څټ نه د دواړو لاسونو تلي راښکلو سره واپس راوړل بیا د شهادت په ګوتو سره د غوږ د دننه حصه او په مټی ګوتو سره د غوږونو بهرنی حصه باندې مسح کول د ګوتو په شا سره د څټ مسح کول بیا درې ځله ورومبے ښی پښه او بیا ګسه پښه د ګیټو پورې وینځل او د ګوتو خلال کول، دا طریقه چې بیان شوه په دې کښې بعضې د اودس فرائض، بعضې سنت او بعضې مستحبات دي چې د هغې وضاحت دادے.

## د اودس فرائض

د دې نه بغير اودس نهٔ کېږي او دا څلور دي.

[۱] مخ وينځل [۲] دواړه لاسونه تر څنګلو پورې وينځل [۳] د سر څلورمه حصه مسح کول [۴] دواړه پښې تر ګيټو پورې وينځل.

## د اودس سنت

اول نيت کول، بسم الله وئيلو سره شروع کول، دواړه لاسونه تر څنګلو پورې وينځل، په خُلهٔ کښې اوبهٔ اچول، مسواک کول، په پوزه کښې اوبهٔ اچول، د ږيرې خلال کول، د پوره سر مسح کول، د غوږونو مسح کول، پرله پسې اودس کول چې د وړومبي اندام د وچېدو نه مخکښې بل اندام وينځل، په ترتيب سره اودس کول، هر وينځونکے اندام درې ځله وينځل.

## د اودس مستحبات

د څټ مسح کول، چاراندام کې قبله ته مخ کول، په پاک او اوچت ځائې باندې کښېناستل، د اوبو اچولو په وخت اندامونه مږل، بغېر د ضرورت نه د بل چا نه مدد نهٔ غوښتل، دنياوي خبرې نهٔ کول، پاتې شوې اوبهٔ په ولاړه لږې څښل، د اودس نه پس د شهادت کلمه او دا دعا وئيل:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنْ عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ.

"اے الله! ما د توبه کونکو او د پاکو خلقو او د خپلو نيکو بندګانو نه کړې"

## په دې څيزونو سره اودس ماتيږي

د غټ اودس ماتي يا وړوکي اودس ماتي د ځائې نه څهٔ څيز راوتل. د وينې، پيپ راوتل او په بدن باندې بهېدل، په ډکه خُلهٔ قے کول، ډډه لګولو سره يا ستونې ستغ ملاستې سره اودهٔ کېدل، په مونځ کښې په زوره زوره خندل، د څهٔ په وجه سره بې هوشه کېدل، د خوږ سترګې نه اوبهٔ رابهېدل.

## څو ضروري مسئلې

د اودس په مینځ کښې کهٔ هوا خارجه شي یا څهٔ داسې خبره وشي چې په هغې سره اودس ماتېږي نو بیا دې د نوې سر نه اودس وکړي، اوس هغه وینځلي شوي اندامونه داسې شو لکه چې نهٔ دي وینځلي شوي. بغېر د اودس نه قرآن پاک ته ګوتې وروړل جائز نهٔ دي. د جنبي (چې اختلام ورته شوے وي) د اودهٔ کېدو یا د خوراک څښاک نه مخکښې اودس کول سنت دي. کهٔ وینه یا پیپ راوځي او نهٔ بهېږي نو اودس نهٔ ماتېږي. کچرې د یو زخم نه هر وخت وینه یا پیپ بهېږي یا هر وخت د متیازو قطره راځي یا تربنه هوا خارجېږي نو داسې کس به هر مونځ دپاره تازه اودس کوي د هغهٔ مونځ کېږي ځکه چې هغه معذوره وي. کله پورې چې وخت وي دا اودس به باقي وي.

## د غسل بیان

وَ اِنۡ کُنۡتُمۡ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوۡا ؕ

"اوکچرې جُنب وې (د لامبلو) ضرورت وي نو ځان ښهٔ پاک کړئ".

## د غسل مسنون طریقه

ورومبے دواړه لاسونه ترګټو پورې وینځل بیا استنجا کول او په کوم ځائې چې ګندګي وغېره وي. هغه لرې کول. بیا اودس کول او د اودس نه پس درې ځله په ښیٔ اوګه او درې ځله په ګسه اوګه بیا درې ځله په سر باندې او په ټول بدن باندې اوبهٔ بهیول او مږل او د چا سره خبرې نهٔ کول.

**په غسل کښې درې فرض دي :** [۱] غرغره کول، دا رنګه چې اوبهٔ د حلق ویخ ته ورسي [۲] په پوزه کښې اوبهٔ اچول چې د پوزې تر نرم ځائې پورې ورسي [۳] په ټول بدن باندې اوبهٔ اچول چې هېڅ یو ځائې وچ پاتې نهٔ شي.

## په کوم صورتونوکښې غسل فرض دے

[۱] مني په شهوت سره راوځي [۲] په خوب کښې اختلام وشي [۳] ښځه د خاوند سره مباشرت وکړي خواه مني راوځي یا راونهٔ ځي [۴] ښځه د حیض نه پاکه شي [۵] نفاس ختم شي یعنې د ماشوم د پیدا کېدو نه پس راتلونکې وینه بنده شي.

## دا غسل مسنون دے

د جمعې مونځ دپاره او د دواړو اخترونو د مونځ دپاره، د احرام تړلو په وخت او د عرفې په ورځ غسل کول سنت دي.

## دا غسل مستحب دے

د وقوف عرفات او وقوفِ مزدلفه، حرم شریف ته د حاضرۍ په وخت او د نبي کریمﷺ روضې مبارکې ته د حاضرۍ په وخت د شبِ برأت او شب قدر وغیره دپاره غسل کول مستحب دي.

## مړي ته د غسل ورکولو اسلامي طریقه

د مړي نه لاندې څادر راویستل او د پاسه پرې داسې پېړ څادر اچول چې لوندېدو سره ئې هم پرده وي.

کۀ د مړي نه جامې په آسانۍ سره نۀ اوځي نو په احتیاط سره کټ کول، د کټ کولو په وخت چې لاس د مړي د جامو او د بدن تر مینځه وي او قېنچې هم تېره نوکې والا نۀ وي، په دې دوران کښې پاسنے څادر هم دپاسه وي او حتي الامکان پردې سره مړي ته غسل او کفن ورکړے شي دې دپاره چې په ستر باندې نظر پرېونۀ ځي.

مړے لږ شان راکښېنوئ او د ټولو طرفونو نه دې خېټې له لږ لږ زور ورکړے شي دې دپاره کۀ څۀ ترې نه راوځي چې په آسانۍ سره راوځي، بیا دې څملولے شي او استنجا دې ورله وکړے شي.

د طهارت (استنجا) کولو دپاره دستانې اچول ضروري دي د مړي ګسه پښه لږه شان اوچتول او په جامې یا په مالوچو سره په ښه طریقې سره پاکول او مسلسل اوبۀ بهیول او استعمال شوې دستانې ویستل ټوکرۍ یا تهیلۍ کښې اچول.

نوې دستانې اچول،د مړي بدن ته د دستانو نه بغېر لاس وړل نۀ دي پکار، او اودس ورله کول.

**اودس :** وړومبے د مړي لاسونه وینځل (هر عمل درې درې ځله او د ښي طرف نه شروع کول) بیا لوندو مالوچو سره د مړي د شونډو دننه حصه ښے او

ګس طرف پاکول او غاښونه صفا کول او شونډو ته په مزه زور ورکولو سره خُلهٔ بندول، دغه شان په لوندو مالوچو سره د مړي پوزه او غوږونه صفا کول او په غوږونو او پوزه کښې ورله مالوچ ایږدل او د غسل نه پس ئې لرې کول. اوس مخ وینځل بیا ښے لاس او بیا ګس لاس تر څنګلو پورې وینځل او د سر مسح کول، په آخره کښې ورله وړومبے ښې پښه او بیا ګسه پښه وینځل.

سر ورله په شیمپو یا صابن سره وینځل او د ښي طرف نه غسل شروع کولو سره وړومبے د ښي مټ نه تر پښې پورې بیا لږ شان په ډډه اړولو سره د بل طرف نه هم ټوله ښي حصه وینځل.

هم دا طریقه ګس طرف ته هم کول د ضرورت مطابق په طاق عدد سره ۳،۵،۷ ځله د غسل اوبهٔ بهیول په آخري ځل د کافورو اوبهٔ اچول.

د پاسه چې کوم لوند څادر وي هغې د پاسه وچ څادر اچول او لوند څادر راویستل او د مړي لاندې هم یو وچ څادر خورَول.

اوس په تولیه سره بدن او وېښتهٔ وچوَل، ګومنز هم کولې شئ، کهٔ وېښتهٔ سمول مشکل وي نو د سر رومال تړلو په وخت وېښتهٔ ورله شاته کول.

مړي ته د غسل ورکولو په وخت باندې چپ اوسېدل پکار دي، په دغه وخت څهٔ دعا یا نعت یا اشعار وئیل څهٔ هم د سنت نه ثابت نهٔ دي.

**کفن خورَول:** د کټ په مینځ باندې پلنوالي طرفته د جامې یوه مضبوطه پټۍ خورَول چې مړے قبر ته دکوزولو په وخت مددګاره شي.

د کفن د تړلو دپاره د کټ په مینځ کښې یوه لویه پټۍ او د سر طرفته او د پښو طرفته وړې وړې پټۍ خورول.

اوس په کټ کښې د پټو دپاسه لوئې سپین څادر خورَول.

د لوئې سپین څادر د پاسه د قمیص وړومبۍ حصه سر طرفته راټولول.

د دې د پاسه د نوم تر خپو پورې لنګ خورَول.

بیا سینه بند د څټ نه ترګیټو پورې خورَول.

**کفن اغوستل:** دوه کسه به د مړي لاندینې څادر سر او پښو طرفته ونیسي

دوه کسه نور د څادر لاندې د ملا په ځائې توليه يا مضبوطه جامه اچولو سره به مړي لره د تختې نه په کټ باندې اچولو کښې مدد ورکړي چې په هغې باندې کفن د مخکې نه اچولے شوے دے (خيال ساتل پکار دي چې کفن راغونډ نۀ شي ځکه چې په کټ باندې د مړي ايښودلو نه پس صحيح کول ډېر مشکل کېږي".

په ډېره کولو سره څادر راويستل پاسنے څادر به لا نۀ اخوا کوئ بلکې په دې کښې دننه به د کفن اچولو عمل کولې شي.

د هرې جامې کسه حصه دننه او ښی حصه به بهر راځي او څۀ قدرې مضبوطتيا سره به انغښتلې شي.

اوس به مړي لره په لنګ کښې هم انغښتلې ټولې جامې په څۀ قدرې مضبوطتيا سره تړلې شي، د سر طرف ته چې کومه راغونډه شوې جامه قميص کټ شوې حصه کښې به د مړي سر ورکړئ او دا جامه به د مړي په سينه باندې راخور کړئ او ټولو طرفونو ته به ئې ښۀ برابر کړئ.

د سر په رومال به د مړي تندے او غوږونه پټ کړئ د څټ نه ئې ګېرچاپېره تاؤ کړئ او شا طرفته به ئې وتړئ وېښتۀ به په ښۀ طريقې سره دننه وي.

د پردې دپاره اچولے شوے څادر به اوس لرې کړئ د کفن لوئې څادر به سر پښې او د ملا پټی له به غوټې ورکړئ په قبر کښې ايښودلو نه پس به دا غوټې وسپړدلې شي.

د مړي د غسل او کفن نه چې فارغ شئ نو اودس به وکړئ البته غسل کول مستحب (خوښ) عمل دے.

**نوټ**: په بعضې هنګامي حالاتو کښې دا ټول څيزونه کۀ مېلاؤ نۀ شي يا مړے په داسې حالت کښې وي چې غسل ورکول کېدې نۀ شي، نو تيمم هم ورله کولی شئ، په مخصوص حالاتو کښې کچرې يوه کفن جامه هم د کفن دپاره ملاؤ شي نو په هغې کښې کفن ورکولی شي، په مجبورۍ کښې يو کس هم غسل ورکولی شئ.

❖❖❖

## مترجم مونځ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم د الله تعالیٰ په نوم چې لوئې مهربان ډېر رحم کونکے دے

**ايمان مفصل:**

اٰمَنۡتُ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ، وَ كُتُبِهٖ، وَ رُسُلِهٖ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ

ايمان مې راوړے په الله تعالیٰ او د هغهٔ په فرښتو، په کتابونو، په رسولانو او په ورځ د اٰخرت

وَالۡقَدۡرِ خَيۡرِهٖ، و شَرِّهٖ، مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالۡبَعۡثِ بَعۡدَ الۡمَوۡتِ ط

او په ښهٔ او بد تقدير چې د الله تعالیٰ لهٔ اړخه دے او د مرګ نه پس په ژوندي کېدو باندې

**ايمان مجمل:**

اٰمَنۡتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسۡمَائِهٖ، وَ صِفَاتِهٖ،

ايمان مې راوړے په الله تعالیٰ څنګه چې هغه خپلو نومونو او خپلو صفتونو سره دے

وَ قَبِلۡتُ جَمِيۡعَ اَحۡكَامِهٖ اِقۡرَارٌۢ بِاللِّسَانِ وَتَصۡدِيۡقٌۢ بِالۡقَلۡبِ ط

او ما قبول کړل د هغهٔ ټول حکمونه، په ژبه مې اقرار او په زړهٔ مې يقين دے

## شپږ کلمې

**اول کلمه طيبه:**

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ

د الله نه بغير څوک د عبادت لائق نشته دے محمد ﷺ د الله رسول دے

**دويمه کلمه شهادت:**

اَشۡهَدُ اَنۡ لَّاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ

ګواهي ورکوم چې الله تعاليٰ نه سيوا بل هيڅوک د عبادت لائق نشته هغه يوازې دے

لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ

شريك يې هېڅوك نشته او زۀ ګواهي وركوم چې محمد ﷺ د هغۀ بنده او رسول دے

## دريمه كلمه تمجيد:

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لَا

الله پاک دے او ټول تعريفونه الله دپاره دي او د الله نه بغير ځوك معبود نشته او الله ډير لوئې دے د ګناه

حَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ

نه دبچ كېدو طاقت او د نېكۍ كولو توفيق نشته خو د الله تعالىٰ دطرف نه دے، چې ډير اوچت لويې والا دے

## څلورمه كلمه توحيد:

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ

دالله نه بغېر هېڅوک معبود نشته هغه يوازې دے د هغۀ څوک شريك

لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِ

نشته دے.د هغۀ دپاره بادشاهي او د هغۀ دپاره تعريف دے هم هغه ژوندي كول كوي

وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ط

او هغۀ مړ كول كوي او هغۀ ژوندے دے هغۀ ته هېڅكله هم مرګ نۀ راځي

ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ط بِيَدِهِ الْخَيْرُ

د لوئې جلال او بزرګۍ والا دے د هغۀ په لاس كښې ښېګړه ده.

وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ

او هغۀ په هرڅيز باندې قادر دے

## پینځمه کلمه استغفار:

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّیْ مِنْ کُلِّ
زۀ د الله تعالٰی نه معافي غواړم چې زما پروردګار دے د هرې
ذَنْبٍ اَذْنَبْتُهٗ عَمَدًا اَوْ خَطَاً سِرًّا اَوْ عَلَانِیَةً،
ګناه نه چې ما په قصد کړې یا ما په هېره کړې په پټه مې کړې وي یا په ښکاره
وَّ اَتُوْبُ اِلَیْهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِیْ اَعْلَمُ وَ مِنَ
او زۀ د هغۀ په دَر کښې توبه کوم د هغې ګناه نه کومه چې زۀ پېژنم یا هغه
الذَّنْبِ الَّذِیْ لَا اَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ
ګناه نه کومې لره چې زۀ نۀ پېژنم (اے الله) بېشکه ته په غېبو باندې پوهېدونکے یې
وَ سَتَّارُ الْعُیُوْبِ وَ غَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَ لَا حَوْلَ
او عېبونو لره پټوونکے یې او د ګناهونو بخښونکے یې او د ګناه نه د بچ کېدو طاقت
وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ
او دَ نېکۍ کولو قوّت نشته خو د الله په مدد سره چې ډېر اوچت لویی والا دے.

## شپږمه کلمه ردِّ کفر:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ
اے الله زۀ ستا پناه غواړم د دې خبرې نه چې
اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَیْئًا وَّ اَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَ اَسْتَغْفِرُكَ
زۀ څۀ شي لره تا سره شریک کړم په قصد سره او زۀ بخښنه غواړم ستا نه
لِمَا لَا اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَ تَبَرَّاْتُ
د دې (شرک) نه کوم لره چې زۀ نۀ پېژنم او ما د دې نه توبه وکړه او بېزاره شوم

مِنَ الْكُفْرِ وَ الشِّرْكِ وَ الْكِذْبِ وَ الْغِيْبَةِ وَ الْبِدْعَةِ
د کفر نه او د شرک نه او د دروغو نه او د غیبت نه او د بدعت نه

وَ النَّمِيْمَةِ وَ الْفَوَاحِشِ وَ الْبُهْتَانِ وَ الْمَعَاصِىْ كُلِّهَا
او د چغلۍ نه او بې حیایۍ نه او د بهتان نه او د ټولو ګناهونو نه او ما اسلام راوړۀ

وَ اَسْلَمْتُ وَ اَقُوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ
او زۀ وایم چې د الله نه بغیر څوک د عبادت لائق نشته محمدﷺ د الله رسول دے.

## د مونځ بیان

په مسلمانانو باندې د الله تعالیٰ مقررکړې شوې فرائضو کښې د ټولو نه لویه فریضه مونځ دے د قرآن وحدیث لوستونکې پوهیږي چې مونځ څومره قدرې اهم او ضروري دے او د دې د پرېښودلو انجام څومره سخت او دردناک دے.

د الله تعالیٰ څو ارشادات اوګورئ:

۱ـ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝

(قرآن) د دې پرهېزګارو دپاره هدایت دے کوم چې په غیبو ایمان لري او مونځ قائموي او زمونږ ورکړې شوي رزق نه خرچ کوي.

۲ـ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۝ وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ۝

دټولو مونځونو حفاظت کوئ خصوصًا د مینځمي مونځ (مازیګر) او د الله په مخکښې په ادب سره اودرېږئ.

۳ـ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّ لَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ

(نیکان) سړي هغه دي چې هغوي لره د هغوي سوداګري او اخستل خرڅول د الله د یاد نه او د مونځ کولو نه او د زکوٰة ورکولو نه په غفلت کښې نۀ اچوي هغوي د قیامت د هغې ورځې نه وېرېږئ چې په هغې کښې

الْقُلُوْبُ وَ الْاَبْصَارُ ﴿۳۷﴾

به ډير زړونه او سترګې په مخ واوړي.

۴۔ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ﴿۴﴾ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴿۵﴾

بربادي ده د هغه مونځ ګزارو دپاره چې د خپلو مونځونو د اهميت نه ناخبره دي يعنې بې وخته ئې کوي او کله ئې کوي کله ئې نهٔ کوي

۵۔ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

نو د هغوي نه پس څهٔ نافرمانه پيدا شول چې هغوي مونځونه ضائع کړل او نفساني خواهشاتو پسې ولګېدل او نزدې ده چې هغوي ته به د ګمراهۍ سزا مېلاؤ شي.

**غی** د دوزخ په لاندې طبقه کښې يو کوهے دے چې په هغې کښې د دوزخيانو پيپ وغېره غورزېږي.

۶۔ فِيْ جَنّٰتٍ ۛ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۴۱﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿۴۳﴾ وَ لَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿۴۴﴾

په جنّت کښې به جنتيان د مجرمانو نه تپوس وکړي تاسو کوم جرم دوزخ ته رارسولي يئ؟ هغوي به وائي مونږ مونځ نهٔ کولو او مسکينانو باندې به مو خوراک نهٔ کولو.

۷۔ **دعائے خليل**: رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۖ رَبَّنَا وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾

اے زما ربه! ما لره او زما اولاد لره مونځ قائمونکي جوړ کړه اے زما پروردګاره زما دعا قبوله کړه.

۸۔ **په موسی باندې ړومبۍ وحی:** اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿۱۴﴾

بېشکه زهٔ الله يم زما نه بغېر بل څوک معبود نشته پس زما عبادت کوئ او زما د يادولو دپاره مونځ قائم کړئ.

۹۔ **د عيسی خبرې د مور په غېږ کښې**:

زهٔ د الله بنده يم هغه ماته کتاب راکړو او ماله ئې نبي جوړ کړو او زه ئې مبارک جوړ کړے يم زهٔ چې چرته هم يم او هغه ماته د

قَالَ اِنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ ؕ اٰتٰنِیَ الْکِتٰبَ وَ جَعَلَنِیْ نَبِیًّا ﴿۳۰﴾ وَّ جَعَلَنِیْ مُبٰرَكًا اَیْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَ اَوْصٰنِیْ بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَیًّا ﴿۳۱﴾

مونځ کولو او زکوٰة ورکولو تاکید کړے. (ترڅو پورې زۀ ژوندے یم).

**۱۰-دلقمان حکیم نصیحت**: یٰبُنَیَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَ اْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَ انْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ

اے زما زویه! مونځ قائم کړه او (خلقو ته) د نېکئ حکم کوه او د بدئ نه ئې منع کوه.

**۱۱-د ایمان والو شان**: وَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ ۘ یَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ یَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ یُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ یُطِیْعُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَیَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ

مومنان سړي او مومنانې ښځې د یو بل مددګار دي. د ښو خبرو حکم کوي او د بدو نه منع کول کوي او مونځ قائموي او زکوٰة ادا کوي او د الله او د هغۀ د رسول تابعدار دي هم دا هغه خلق دي په چا چې الله تعالیٰ به رحم کوي. بېشکه الله تعالیٰ غالب او حکمت والا دے. (۱۷)

**۱۲-پنځه وخته مونځ**: وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَیِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّیْلِ ؕ

مونځ قائموئ د ورځې په دواړه سرونوکښې (یعنې سحر او ماښام) او د شپې په هغه ساعتونو کښې چې ورځې ته نزدې دي. (یعنې ماسخوتن وتهجد)

۱۳ - حٰفِظُوْا عَلَی الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی

د ټولو مونځونو حفاظت کوئ او خصوصًا د مینځمي مونځ د (مازیګر) د مونځ

۱۴ - اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ

مونځ قائم کړئ د نمر د اوختو نه پس (یعنې ماسپښین)

په آیت نمبر۱۲ سره د سحر او ماښام او ماسخوتن او په آیت نمبر۱۳ سره د مازیګر او په آیت نمبر ۱۴ سره د ماسپښین د مونځ ثبوت مېلاؤ شو.

غرض دا چې په هر عاقل، بالغ مسلمان سړي او ښځه باندې پینځهٔ وخته مونځ فرض عین دے د دې د فرضیت نه انکار کول کفر دے او بغیر د شرعي عذر نه ئې پرېښودل لویه ګناه ده دا خالص بدني عبادت دے په دې کښې نیابت نهٔ شي جاري کېدے یعنې د یو کس د طرف نه ئې بل کس نهٔ شي کولې او نهٔ د دې په بدله کښې په ژوند کښې څهٔ مال د فدیې په ډول ورکولې شي. دا د دین ستن ده، د دې قائم ساتل د دین قائم ساتل دي په سفر وحضر هېڅ یو حالت کښې هم معاف نهٔ دے. تر دې پورې چې د مرض وغیره په وجه سره په ولاړه نهٔ شي کولې نو په ناسته به ئې کوې او کهٔ په ناسته ئې هم نهٔ شي کولې نو په ملاسته به ئې کوې په جمعٔ سره کول د ځانله مونځ کولو نه اوویشت درجې بهتر دے.

## ثناء

**قیام:**

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ

پاک ئې ته اے الله زهٔ ستا ستائنه کوم او ستا نوم برکت والا دے

وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ ط

او ستا شان ډېر اوچت دے او ستا نه بغیر بل څوک معبود نشته.

کچرې په جمعٍ سره امام پسې شاته مونځ شروع کړې نو ثناء وئیلو نه پس به چپ یې او د امام قرأت به اورې او کهٔ ځانله وې نو د ثناء نه پس به تعوّذ تسمیه او سورۀ فاتحه او بل سورة ولولې.

**تعوذ:** اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ○

زهٔ پناه غواړم په الله تعالی سره د شیطان رټلي شوي نه

**تسمیه:** بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

د الله تعالی په نوم سره شروع کوم چې لوئې مهربان او ډېر رحم کونکے دے

## سورة فاتحه :

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۙ﴿۱﴾ الرَّحۡمٰنِ

ټول تعریفونه الله لره دي چې پالونکے د ټول عالم دے. بخښونکے

الرَّحِيۡمِ ۙ﴿۲﴾ مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ ؕ﴿۳﴾ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ

او مهربان دے. د قیامت د ورځې مالک دے. خاص ستا عبادت کوؤ

وَ اِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ ؕ﴿۴﴾ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿۵﴾

مونږه او هم خاص ستانه مدد غواړو او ښایه مونږ ته لاره نېغه (مضبوط کړې مونږ په لاره نېغه)

صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬ غَيۡرِ

د هغه خلقو لاره چې تا پرې انعام کړے دے

الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَ لَا الضَّآلِّيۡنَ ﴿۷﴾

نۀ د هغه خلقو لاره چې (ستا) غضب پرې شوے دے او نۀ د ګمراهانو دې نه پس به امام او مقتدي به په مزه وائي "اٰمِينَ" الله دا دعا زما قبوله کړه.

## سورة اخلاص :

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ﴿۲﴾ لَمۡ يَلِدۡ ۙ۬

اووایه چې الله یو دے. الله بې نیازه دے. نۀ د دۀ نه څوك

وَ لَمۡ يُوۡلَدۡ ۙ﴿۳﴾ وَ لَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

پیدا دي او نۀ هغه (د چا نه ) پیدا دے او څوک هم د هغه برابر نشته دے.

بیا الله اکبر وئیلو سره رکوع ته لاړ شه او کونډو (زنګون) لره د لاسونو په ګوتو سره مضبوط ونیسه او دومره ټیټ شه چې سر او ملا دواړه برابر شي اوکم نه کم

درې ځله اووایه .

**د رکوع تسبیح:** سُبۡحَانَ رَبِّیَ الۡعَظِیۡمِ ط

پاک دے زما پروردګار د لویئ والا دے.

کۀ چرې په جمعِ سره مونځ وي نو د رکوع نه پاسېدو سره صرف امام به تسمیع وائي.

**تسمیع:** سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ ط

الله پاک د هغه چا واورېدل چا چې د هغۀ تعریف وکړۀ.

**قومه:** بیا به دواړه لاسونه پرېږدې نېغ به اودرېږې او مقتدي به تحمید وائي.

**تحمید:** رَبَّنَا لَكَ الۡحَمۡدُ ط

اے زمونږ پروردګاره ټول تعریفونه هم ستا دپاره دي.

ځانله مونځ کونکي به تسمیع او تحمید دواړه وائي بیا به الله اکبر وئیلو سره سجدې ته لاړشي دارنګه چې وړومبے به دواړه کونډې بیا دواړه لاسونه به په زمکه باندې کېږدې بیا پوزه او بیا به تندے او مخ به د دواړو لاسونو ترمینځ کېږدې او سرے به لاسونه د ترخونو نه او خېټه به د پنډو نه لرې وساتي او څنګلې به د زمکې نه اوچتې وي او د دواړه پښو دګوتو سرونه به قبلې طرفته په زمکه باندې مضبوط وي لوکم نه کم درې ځله به اووائې.

**د سجدې تسبیح:** سُبۡحَانَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی ط

پاک دے زما رب ډېر اوچت شان والا دے.

**جلسه:** بیا به الله اکبر وئیلو سره سجدې نه دا رنګه پاسې چې وړومبے به تندے بیا پوزه بیا به لاسونه اوچت کړې لوګسه پښه به راماته کړې او ښۍ پښه به ودروې چې د هغې دګوتو سرونه به قبلې طرفته وي او لاسونه به د پښو کونډو ته نزدې کېږي دے او د لاسونو دګوتو سرونه به قبلې طرفته وي بیا به الله اکبر اووائې.

**دوېمه سجده:** دا رنګه به دوېمه سجده هم وکړې او بیا به الله اکبر اووائې او وبهٔ دربېږې.

**قیام:** تسمیه، فاتحه او یو سورة به ولولې او دا رنګه به رکوع او سجده وکړې خو امام پسې به مقتدي بِسۡمِ الله، فاتحه او سورة نهٔ لولي هغه به چپ چاپ ولاړ وي.

**قعده:** د دوېم رکعت د دواړه سجدو نه چې فارغ شې دا رنګه به کېښېنې څنګه چې د دواړه سجدو په مینځ کښې ناست وې.

**تشهد:**

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبٰتُ ط

ټول قولي او فعلي عبادتونه خاص د الله تعالی دپاره دي او ټول مالي عبادتونه د الله تعالی دپاره

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ

دي سلام دې وي په تا باندې اے نبي او د الله رحمتونه

وَ بَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ

او د هغهٔ برکتونه، سلام دې وي په مونږ باندې او د الله تعالی په نېکو

الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

بندګانو باندې. زهٔ ګواهي ورکوم چې د الله نه سېوا بل څوک معبود نشته

وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ

او زهٔ ګواهي ورکوم چې حضرت محمد د الله بنده او رسول دے

**درود شریف:**

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى

اے الله! رحمت ولېږه په حضرت محمد صلي الله علېه وسلم باندې او په

اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى

اٰل د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم لکه څنګه چې تا رحمت نازل کړے دے په

اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ

حضرت ابراهيم عليه السلام باندې او په اٰل د حضرت ابراهيم عليه السلام باندې بېشکه تهٔ

حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ

ستائيلے شوے لوئې يې. اے الله! برکت ورکړې حضرت محمد ﷺ ته

وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ

او اٰل د حضرت محمد ﷺ ته لکه څنګه چې تا برکت ورکړهٔ حضرت ابراهيم عليه السلام ته

وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ.

او اٰل د حضرت ابراهيم عليه السلام ته بېشکه تهٔ ستائيلے شوے لوئې يې.

**دعا:**

رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۖ

اے زما پروردګاره! ما لره د مونځ پابند جوړ کړه او زما اولاد لره هم

رَبَّنَا وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ۝ ٤٠ رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَ لِوَالِدَيَّ

اے زما پروردګاره زما دعا قبوله کړه. اے زما پروردګاره ما لره او زما مور پلار

وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ۝ ٤١

لره او ټول مومنانو لره اوبخښې په هغه ورځ کله چې به (د عملونو) حساب وي

بيا به د مونځ ختمولو د پاره يو ځل ښي او يو ځل ګس طرفته سلام وګرځوې.

**دعا:** اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ؕ په تاسو دې سلامتيا وي او د الله رحمت.

## آیة الکرسي:

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ

الله هغه ذات دے هغه نه بغیر بل معبود نشته هغه تل ژوندے او قائم پاتې کېدونکے دے

لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّ لَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

نۀ په هغۀ پرکالي راځي او نۀ خوب. د اسمانونو او د زمکې ټول څیزونه د هغۀ (ملکیت) دے

وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا

څوک دي؟ چې د هغۀ په دربار کښې به بې اجازته (دَ چا) سفارش وکړي

بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَ مَا خَلْفَهُمْ ۚ

پوهه دې په هغه خبرو چې د خلقو په وړاندې دي او په هغې چې د خلقو د نظر نه شاته دي

وَ لَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا

او هغوي د هغۀ دَ معلوماتو نه په هېڅ څیز باندې احاطه نۀ شي کولې مګر په هغې

بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ۚ وَ لَا

چې الله اوغواړي،د هغۀ حکومت په اسمانونو او زمکه باندې خور دے او د دې

يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَ هُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۲۵۵﴾

دواړو په ساتنه باندې هغه هېڅ کله نۀ ستړے کېږي او هغه اوچت او لوئې ذات دے.

## دعائے قنوت:

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَ نُؤْمِنُ بِكَ

اے الله مونږ ستا نه مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو او په تا ایمان لرو

وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَ نُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَ نَشْكُرُكَ

او په تا باندې بهروسه ساتو او ستا ډېر ښۀ تعریف کوؤ او ستا شکر کوؤ

وَ لَا نَكۡفُرُكَ وَ نَخۡلَعُ وَ نَتۡرُكُ مَنۡ يَّفۡجُرُكَ

او ستا ناشکري نهٔ کوؤ او پرېږدو او جدا کېږو دَ هغه چا نه چې ستا نافرماني کوي.

اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَ لَكَ نُصَلِّيۡ وَ نَسۡجُدُ

اے الله خاص ستا عبادت کوو او تا لره مونځ کوو او تاته سجده کوو

وَ اِلَيۡكَ نَسۡعٰى وَ نَحۡفِدُ وَ نَرۡجُوۡا رَحۡمَتَكَ

او هم ستا طرف ته درمنډه کوؤ او خدمت دپار حاضرېږو او ستا دَ رحمت اُمیدوار یو

وَ نَخۡشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالۡكُفَّارِ مُلۡحِقٌّ ط

او ستا دَ عذاب نه وېرېږو، بې شکه ستا عذاب کافرانو پورې انختونکے دے.

## د جنازې مونځ

**د مونځ طریقه:** وړومبے به نیت وکړې امام او مقتدي به دواړه لاسونه د غوږونو پورې اوچت کړي او اللهُ اَکۡبر به اووائي د ثنا نه لاندې به لاسونه وتړي اوثناء به اووائي د وَتَعَالٰى جَدُّكَ نه پس به وَجَلَّ ثَنَآؤُكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيۡرُكَ ولولي بیا به د لاسونو اوچتولو نه بغېر تکبیر اووائي او هم هغه د مونځ والا درود شریف به ولولي بیا به بغېر د لاسونو اوچتولو نه بغېر یوه بله دعا اووائي. مقتدي به تکبیرونه په مزه وائي او امام به په زوره وائي.

### د بالغ سړي او ښځې دعا:

اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا

یا الله او بخښې زمونږ هر ژوندي او زمونږ هر مړي لره او زمونږ هر حاضر او زمونږ هر غائب لره

وَصَغِيۡرِنَا وَكَبِيۡرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنۡثَانَا ط

او ز مونږ هر وړوکي لره او زمونږ هر لوئې لره او زمونږ هر نارینه لره او زمونږ هرې زنانه لره

اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَام

یا الله ته چې په مونږ کښې کوم بنده لره ژوندے اوساتې نو هغهٔ لره په اسلام باندې ژوندے

وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيمَانِ

اوساتې او په مونږ کښې چې څوک مړ کړې نو هغهٔ ته په ایمان باندې مرګ ورکړې

## د نا بالغه هلک دعا:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرْطاً وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا

اے الله دا هلك زمونږ دَ نجات دپاره مخکښې تلونکے جوړکړې او زمونږ دپاره ئې اجر او

وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا.

ذخیره جوړه کړې او دا زمونږ سفارشي جوړکړې د چا سفارش چې قبول کړے شوے وي.

## د نابالغې جینۍ دعا:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَافَرْطاً وَّاجْعَلْهَا لَنَا

اے الله دا جینۍ زمونږ دَ نجات دپاره مخکښې تلونکي جوړه کړې او زمونږ دپاره ئې

اَجْرًاوَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً

اجر او ذخیره جوړه کړې او دا زمونږ سفارشي جوړه کړې د چا سفارش چې مقبول وي.

❖❖❖

# مسنون دعاګانې

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ

ترجمه : او ستاسو د پروردګار ارشاد دے چې زما نه دعا اوغواړئ زه به ئې قبلوم.

**کله چې د کوره اوځې :**

بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ

ترجمه: د الله په نوم سره ما په الله باندې بهروسه اوکړه.

**کله چې جمات ته ننوځې :**

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

ترجمه: اے الله زما دپاره د رحمت دروازې خلاصې کړې.

**کله چې جمات نه اوځې :**

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ

ترجمه: اے الله زهٔ ستا نه ستا فضل غواړم او ستا رحمت.

**کله چې د خوب نه پاسي :**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ط

ترجمه: ټول تعریفونه الله دپاره دي چا چې مونږ ته ژوند راکړهٔ پس د مرګ نه او مونږ له هم هغه طرفته بیا ورتلل دي.

**کله چې بیت الخلاء ته ځي :**

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَآئِثِ

ترجمه: اے الله زهٔ په تا سره پناه غواړم د پلیتو پیریانو نارینه ؤ نه او پیریانو زنانه ؤ نه.

**کله چې د بیت الخلاء نه اوځي :**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَذْهَبَ عَنِّی الْأَذٰی وَعَافَانِیْ

ترجمه: ټول تعریفونه الله دپاره دي چا چې مانه تکلیف لرې کړلو او ماته ئې عافیت راکړهٔ.

**کله چې د خوراک نه فارغ شي :**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ

ترجمه: ټول تعریفونه الله تعالی دپاره دي چا چې په مونږ باندې خوراک او څښاک وکړهٔ او مونږه ئې مسلمانان وګرځولو.

**کله چې د چا میلمه شي نو دا به وایي :**

اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِیْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِیْ

ترجمه: اے الله چا چې په مونږ باندې اوخوړله تهٔ په هغهٔ باندې اوخوروې او چا چې په مونږه باندې اوڅښوله تهٔ په هغهٔ باندې اوڅښوې

**کله چې نوې جامې واچوي :**

اَلْحَمْدُ لِلّٰه الَّذِی کَسَانِیْ مَآ اُوَارِی بِهٖ عَوْرَتِیْ وَاَتَجَمَّلُ بِهٖ فِیْ حَیَاتِیْ

ترجمه: ټول تعریفونه الله دپاره دي چا چې ماته جامې واغوستې چې زهٔ په دې سره ستر پټ کړم او په خپل ژوند کښې په دې سره ښائسته شم

**کله چې په سورلۍ باندې سور شي :**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَلَنَا هٰذَا

شکر دے د الله، پاک دے هغه ذات چا چې دې لره زمونږ په قبضه کښې راکړهٔ او مونږ

وَمَا کُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّآ اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ط

دې لره نهٔ شو قبضه کولې او بېشکه مونږ خپل رب طرفته ضرور واپس کېدونکي یو.

**د شب قدر او شب برأت دعا:**

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي يَا غَفُوْرُ ط

اے الله! بېشکه تهٔ معافي کوونکے ئې او معافي لره خوښوې بس مالره معاف کړه، اے بخښونکيه!

**کله چې قبرستان ته لاړ شې:**

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُوْرِ

سلام دې وي په تاسو باندې اے قبرونو والو!

يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ

الله دې مونږ اوتاسو اوبخښي تاسو مخکې راغلئ او مونږ تاسو پسې راتلونکي يو

**کله چې آئينه کښې ګورې:**

اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِي فَحَسِّنْ خُلُقِي

اے الله تا زما صورت ښهٔ جوړکړے دے تهٔ زما سيرت لره هم ښهٔ جوړ کړې.

**کله چې مياشت اووينې:**

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْإِيْمَانِ

اے الله دې مياشتې لره په مونږ باندې د برکت ايمان خېريت،

وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ

سلامتيا والا کړې او (مونږه ته) توفيق راکړې د هغه (عمل) چې تاته خوښ وي

وَتَرْضٰى رَبِّي وَرَبُّكَ اللهُ

او تهٔ پرې راضي ئې (اے مياشتې) زما او ستا رب الله دے.

**کله چې څۀ مصیبت اورسي :**

اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيهِ رَاجِعُوْنَ ط اَللّٰهُمَّ عِنْدَكَ اَحْتَسِبُ

بېشکه مونږ د الله يو او مونږ به هغه طرفته واپس کېږو. اے الله زۀ په خپل مصيبت کښې

مُصِيْبَتِي فَاْجُرْنِي فِيْهَا وَاَبْدِلْنِيْ مِنْهَا خَيْرًا

ستا نه د ثواب اميدوار يم بس ماته په دې کښې اجر راکړې او د دې غوره بدله راکړې.

**کله چې د قرض غم و فکر وي :**

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ

اے الله زۀ د فکر او غم نه ستا په پناه کښې راځم

وَالْحُزْنِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَ قَهْرِ الرِّجَالِ ط

او د قرض د راګېرولو او د خلقو د مغلوب کولو نه هم ستا پناه غواړم

❖❖❖

# الله تعالیٰ قرآن کریم ولې نازل کړۀ؟
# الله تعالیٰ د دې په حقله څۀ فرمائي؟
# راشئ ځان خبر کړئ!!

**اَلذِّکْرُ** : (نصیحت، یادونه)

دا یو لوئې برکت والا کتاب دے چې (اے نبي ﷺ) مونږ تا باندې نازل کړے دے. دې دپاره چې خلق د دې په آیتونو باندې غور وکړي (او د عقل خاوندان د دې نه نصیحت حاصل کړي) (ص:۲۹)

**اَلْفُرْقَان** : (حق او باطل کښې فرق کونکے)

"ډېر د برکت نه ډک دے هغه الله چاچې دا فرقان (په حق او باطل کښې فرق کونکے قرآن) په خپل بنده (محمدﷺ) باندې نازل کړۀ دې دپاره چې ټول عالم دپاره خبرداره کونکے وي" (الفرقان : ۱)

**الهُدٰی** : (مکمل لاره ښودونکے او هدایت)

"حقیقت دا دے چې دا قرآن هغه لاره ښائي چې بالکل نېغه ده کوم خلق چې دې لره اومني ښۀ کارونه ئې وکړل هغوي ته دا زېرے ورکوي چې د هغوي دپاره لوئې اجر دے او کوم خلق چې آخرت لره نۀ مني هغوي ته خبر ورکوي چې د دوي دپاره مونږ دردناک عذاب تیار کړے دے. (بني اسرائیل: ۹ تا ۱۰)

**اَلْاَمْثَالَ** :(د مثال په انداز کښې خبرې ښودل دې دپاره چې خلق غور وفکر وکړي)

دا مثالونه مونږ خلقو ته په دې وجه بیانوؤ چې هغوي په خپل حالت باندې غور وکړي. (الحشر:۲۱)

**زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا** : (په ايمان کښې اضافه کونکے)

" ربنتوني ايمان والا خو هغه خلق دي چې د هغوي زړونه د الله ذکر (قرآن) اورېدو سره وېرېږي. اوکله چې دا الله تعالیٰ اياتونه د هغوي په مخکښې لوستلې شي نو د هغوي ايمان زياتېږي او هغوي پخپل رب باندې توکل اوبهروسه کوي. (انفال : ٣)

**اَحْسَنُ الْحَدِيْثِ** : (غوره کلام يا ښائسته خبرې اترې)

"الله تعالیٰ ډېر ښکلے (غوريز) کتاب نازل کړے دے يو داسې کتاب دے چې د هغې ټولې حصې يو شان دي چې په کښې مضمونونه بيا بيا ذکر شوي دي د دې په اورېدو سره په هغه خلقو باندې وېښتهٔ اودرېږي څوک چې د خپل رب نه وېرېږي بيا د هغوي بدن او د هغوي زړهٔ نرم شي د الله ذکر طرفته راغب کېږي.(الزمر : ٢٣)

**يَسْئَلُوْنَكَ**: (ستا نه تپوس کوي يا سوال کوي)

" او تپوس کوي: ( د الله په لاره کښې) څهٔ خرچ کړو؟ ورته اووايه چې کوم څهٔ ستاسو د ضرورت نه زيات وي (هغه خرچ کړئ) دغه شان الله تعالیٰ ستاسو دپاره صفا احکام بيانوي، کيدې شي تاسو (د دنيا و آخرت دواړو) فکر کوئ. (البقره: ٢١٩)

**ذِكْرُكُمْ** : (په دې کښې د انسان ذکر دے د قرآن موضوع انسان دے)

"خلقو مونږ تاسو ته يو داسې کتاب نازل کړے دے په کوم کښې چې ستاسو ذکر دے. آيا تاسو د عقل نه کار اخلئ. (انبياء : ١٠)

**يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ** : (د نصيحت حاصلولو دپاره قرآن بالکل آسان دے)

"او بېشکه مونږ دا قرآن د نصيحت حاصلولو دپاره آسانه ذريعه جوړه کړې ده، بيا

ثوک شته نصيحت قبلولو والا. (القمر :۱۷،۲۲،۳۲،۴۰)

**اَحۡسَنَ تَفۡسِیۡرًا** : (په ښکلي انداز کښې خپلې خبرې ښکاره کولو والا کتاب. غوره تفسير)

" او منکرين وائي چې په دې سرې باندې ټول قرآن په يو ځل ولې نازل نۀ کړې شۀ ؟ او داسې ځکه وکړې شو چې دې لره مونږ په ښۀ طريقې سره ستاسو په ذهن کښې کښېنوؤ. او هم په دې غرض سره هم دې لره په يو خاص ترتيب سره ځانله ځانله د اجزاؤ شکل ورکړو او په دې کښې مصلحت دا دے چې کله هغوي تاسو ته يو عجيبه خبره يا سوال راوړي او راشي نو د هغې صحيح جواب په وخت مونږ تاسو ته درکړے دے او په ښه طريقې سره مو درته واضح (جواب) وښايو (الفرقان : ۳۱ تا ۳۳)

**اُتۡلُ مَاۤ اُوۡحِیَ اِلَیۡکَ**: (ولوله هغه څۀ چې وحي ئې کېږي تاته)

"او (اے نبي ﷺ) کومه وحي چې درته دَ خپل رب دَ کتاب په ذريعه راغلې ده د هغۀ دَ خبرو هېڅ بدل پېدا کېدے نۀ شي او دَ هغۀ نه بغېر به هېچرې تۀ پناه بيا نۀ مومې . (الکهف : ۲۷)

الله تعالیٰ په قرآن کښې د غوروفکر نۀ کونکو نه ناراضه دے

اووايه! چې هم الله دے چې چا تاسو پېدا کړئ، تاسو ته ئې د ليدلو او اورېدلو طاقتونه درکړل او د فکر او پوهې والا زړۀ ئې درکړۀ خو تاسو کم شکر ادا کوئ. (الملک : ۲۳)

" آيا هغه خلقو په قرآن کښې غورو فکر نۀ دے کړے، يا د هغوي په زړونو باندې تالې لګېدلي دي؟ " (محمد: ۲۴)

## د الله تعالی د آيتونو پټولو والا به انجام بد وي

"کوم خلق چې زمونږ نازل شوي روښانه تعليماتو او هداياتو لره پټوي، حالانکې مونږ هغې لره د ټولو انسانانو د رهنمایئ دپاره په خپل کتاب کښې نازل کړي دي يقين وکړئ چې الله تعالیٰ هم په هغوي باندې لعنت کړے دے او ټول لعنت کونکي هم په هغوي باندې لعنت لېږي. پس کوم خلق چې د دې طريقې نه منع شول او د خپل عمل اصلاح ئې وکړه اوکوم څۀ چې ئې پټول هغه ئې بيانول شروع کړل، هغوي به معاف کړم، او زۀ لوئې بخښونکے رحم کونکے يم" (البقره : ۱۵۹ تا ۱۶۰)

## د قرآن کريم په شان ملغلرې نعمت په حقله به تپوس کيږي

"او حقيقت دا دے چې دا کتاب ستاسو دپاره او ستاسو د قوم دپاره يو نصيحت نامه ده، او نزدې ده چې تاسو نه به د دې په حقله تپوس کولې شي. (الزخرف : ۴۴)"

## اختلافات ختم کړئ ګنې الله تعالی به عذاب درکړي

"ټول په يوځائې د الله تعالیٰ رسئ مضبوطه ونيسئ او ډلې ډلې مۀ کيږئ".

چرته تاسو د هغه خلقو په شان جوړ نۀ شئ کوم چې په فرقوکښې تقسيم شول او ښکاره ښکاره واضح هداياتو موندلو نه پس هم بيا په اختلافاتوکښې اخته شول چا چې دا طريقه اختيارکړه هغوي به د قيامت په ورځ سخته سزا مومي. (آل عمران : ۱۰۳ تا۱۰۵)

**او پېغمبر ﷺ به وائي چې "اے زما ربه يقيناً زما د قوم خلقو دا قرآن پرېښودلے وۀ".** (الفرقان : ۳۰)

الله تعالیٰ دې مونږ ټولوته په قرآني تعليماتو باندې د پوهېدو، په هغې د عمل کولو او نورو ته د رَسوَلو توفيق راکړي.

## د سورة حج د آيت نمبر ۷۸ په رڼا کښې څو اهم نکات

ترجمه: او د الله تعالیٰ په لاره کښې داسې جهاد وکړئ څنګه چې د جهاد حق دے. هغهٔ تاسو لره غوره جوړ کړي يئ او په تاسو باندې ئې د دين په حقله څهٔ تنګي نهٔ ده اچولې. د خپل پلار ابراهيم (عليه السلام) دين لره قائم وساتئ. هم هغه الله ستاسو نوم مسلمان ايښودلے دے د دې قرآن نه مخکښې او په دې کښې هم دې دپاره چې پيغمبر په تاسو باندې ګواه شي او تاسو په ټولو خلقو باندې ګواه شئ. بس تاسو لره پکار دي چې مونځ قائم کړئ او زکوٰة ادا کړئ او دالله (رسیٔ) لره مضبوطه ونيسئ هم هغه ستاسو مددګار او مالک دے. پس څومره ښهٔ مالک دے او څنګه غوره مددګار دے".

يعنې صرف د الله تعالیٰ د رضا دپاره جهاد کوئ خواه د مشرکانو نه خلاف وي يا د نفس امّاره خلاف وي.

دغه شان فرمائي: په دين کښې څهٔ تنګي نشته دے، دين اسلام ډېر آسان دے او په دې کښې مشکل نشته دے. ايا په دې دور کښې هم دين آسان دے او په دې باندې عمل کول آسان دي. تپوس وکړئ د خپل علماؤ نه؟

دا ملت، ملت ابراهيمي دے او دا دين، دين ابراهيمي دے د هغې وضاحت د خپل علماؤ نه ضرور معلوم کړئ.

الله تعالیٰ د ابراهيمي دعا په برکت سره زمونږ نوم مسلمان ايښودلے دے چې الله تعالیٰ ته ډېر خوښ دے. الله تعالیٰ د خپلو منونکو خلقو دپاره هميشه مسلمان نوم خوښ کړے دے. حضرت ابراهيم عليه السلام هم فرمائيلي دي : انا اول المسلمين ، دغه شان نبي عليه السلام هم فرمائيلي دي : انا اول المسلمين : بلکې ټولو پيغمبرانو د خپل ځان دپاره د الله تعالیٰ دا ورکړے شوے خوښ نوم هم "مسلمان" د خپل ځان دپاره خوښ کړو او مونږ ځان ته د مسلمان وئيلو او جوړېدو په ځائې مختلف فرقو او ډلو ته ترقي ورکوؤ آيا مونږ ته دا نوم (مسلمان) خوښ نهٔ دے. تپوس وکړئ د خپلو علماؤ نه؟

## سورة انعام : ۱۶۲

"تاسو اووایئ بېشکه زما مونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ (ټول) د الله تعالی دپاره دي چې رب دے د ټول عالم. نشته څوک شریک د هغهٔ او ماته هم دا حکم شوے دے او زهٔ د ټولو نه وړومبے مسلمان یم".

## سورة احزاب د آیت نمبر ۲۱ په رڼا کښې

د رسول الله صلي الله علیه وسلم د ژوند نه د رهنمایي دعوت

ترجمه: یقینًا ستاسو دپاره په رسول الله ﷺ) کښې ښه نمونه ده (موجوده) ده د هر هغه چا دپاره چې د الله تعالی او د قیامت د ورځې توقع ساتي او په کثرت سره الله تعالی یادوي.

د رسول الله ﷺ سیرت زمونږ دپاره غوره نمونه ده یعنې چې کوم کارونه هغوي کړي دي هم هغسې مونږ له هم کول پکاردي او مونږ له د رسول الله ﷺ په سنت باندې عمل کول پکاردي په ځائې د دې چې مونږ بله یوه طریقه خپله کړو. په دې مقصد کښې د کامیابېدو دپاره مونږ ته د نبي علېه السلام دَ ټولو معاملاتو په حقله تفصیلي علم کېدل پکار دي. مثلاً :

د نبي علېه السلام کورنے ژوند څنګه وهٔ؟

د نبي علېه السلام کاروباري معاملات څنګه وو؟

نبي علېه السلام نکاح ګانې څومره کړې وې؟

نبي علېه السلام د ولیمې څهٔ حکم کړے دے؟

آیا نبي علېه السلام د ولیمې پېسې (نیندرا) اخستلو حکم کړے څنګه چې زمونږ رواج دے؟

نبي علېه السلام خپلو بیبیانو ته څومره څومره مهر ادا کړے وهٔ؟

حضرت عثمان غني رضي الله عنه حضرت کلثوم رضي الله عنها او حضرت رقيه رضي الله عنها ته څومره مهر ورکړے وۀ او حضور ﷺ خپلو لوڼو ته څومره جهيز ورکړے وۀ؟ دغه شان د حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت حفصه رضي الله عنها مهر ئې څومره ادا کړے وۀ او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه، حضرت عمرفاروق رضي الله عنه خپلو لوڼو ته څومره جهيز ورکړے وۀ؟

څنګه چې زمونږ د ودونو طريقې او رسم ورواج دے ٰايا د نبي عليه السلام او صحابو په زمانه کښې هم داسې کيدل يا نۀ؟ کچرې نۀ کيدل او يقينًا نۀ کيدل نو مونږ چرته روان يو. لږ فکر وکړئ !

د نبي عليه السلام د وفات نه پس د پاکو بيبيانو معاملات څنګه وو؟ د نبي عليه السلام پاکو بيبيانو خپل د عدت ورځې څنګه تيرې کړې؟ نبي عليه السلام څومره عمرې کړې وې؟ د نبي عليه السلام عبادات څنګه وو؟ وغيره وغيره .

خپل ژوند لره د اسوۀ حسنه په رڼا کښې د ښائسته کولو دپاره د دې ټولو تفصيلي جواباتو د خپلو علماؤ کرامو نه تپوس وکړئ.

(ياد ساتئ) د الله او د هغۀ د رسول ﷺ نه مخکې مۀ ځئ. (الحجرات:١)

اِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتٰبِ اَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهٖ اٰخَرِيْنَ (الحديث)

بيشکه الله جل جلاله ډير قومونه په دې قرٰان اوچت کړي (چاچې پرې عمل کړے دے) او ډير يې خراب کړي (چې چا پرېښے دے)

◈◈◈